کابل

۱۳۷

دعبدالرؤف «بینوا» په‌اهتمام
آدرس پښتو ټولنه، د «ابن سینا» واټ
تلګرافي عنوان : کابل، پښتو ټولنه
ټوله لیکونه و ع ، عبدالرحمن خان
«پژواك» د پښتو ټولنې عمومي مدیر
ته کېږي .

کابل

(میاشتنۍ مصوره مجله)

(ادبي ، اجتماعي ، تاریخي)
د پښتو ټولنې د صحافت له خانګې
څخه خپرېږي

اشتراك
کابل : ۲٤ افغاني
دننه مېنه ۲٦ «
دباندې ۱ سترلګ پوند
دښوونځیوزده کوونکو ته ۱٤ افغاني

۱۱ کال . . . میزان دمیاشتې ستامبر ۱۳۲۰ - ۱۹٤۱ ع ؛ (۷) ګڼه

ددې ګڼې لیکونه

لیك	لیکونکی	مخ
د تاګور مرګ	ښاغلی «بینوا»	۱
د هندنومیالی شاعر	« «حبیبی»	۲
زه اوسپوږمۍ	« «مجروح»	۸
سپوږمۍ	« «حبیبی»	۱۰
د سپوږمۍ سره	« «خادم»	۱۱
سپوږمۍ	« «الفت»	۱۲
سپوږمۍ ته خطاب	« «بینوا»	۱٤
د اسمان لور	« «الفت»	۱۵
د مکتب ترانه	« «زمریالی»	۱٦
د استقلال خوشحالی	« «پردیس»	«
ټیګور	« «رشتین»	۱۷
سعادت	د « «عزیزالرحمن خان» ترجمه	۱۸
د بندي عسکر لیك	« « «هاشمي» «	۲۱
یوه هیله لرم	« «بینوا»	۲۳
شفاهي ادبیات	« «کهزاد»	۲٤
شعر او د عربو ښځې	د « «نظامي» ترجمه	۲٦
اتل «عبقري»	د « «عزیزالرحمن خان» ترجمه	۲۹
د ټون تحقیق	« «بینوا»	۳۱
د پښتو ځنې مخصوصې مزایاوې	« «ایازي»	۳٤
د پښتو مشترك لغات	« «اخلاص»	۳٦
ادبي انتقاد	« «خادم»	۳۸
د سنبلې اتلسمه	« د صحافت خانګه	۳۹
پښتانه شعراء	« «	٤۰
د پښتو اصطلاحات	« «	«
د پسرلۍ نغمه	« «	«
د نندارتون مجله	« «	«
عکسونه	( ) قطعي	

Kabul

Revue mensuelle scientifique,historique, littéraire, publiée par la section des publications et de la presse de l'Académie Afghane.

Abonnements :	ville de Kaboul	1 an	12 afgs.
	Provinces d'Afghanistan	«	14 «
	Etranger	«	10 S

No. 127 Septem bre

دکابل دکالنۍ اعلانونه

۱ :ـ دلمړی کال	۱۳۱۱	کالنۍ	په کابل کی	۳ نیمی افغانۍ	په ولایاتو کی	٤ افغانۍ	په دباندی کی	دري	کلداری
۲ :ـ ددوهم	« ۱۳۱۲	«	«	٦ «	«	۷ «	«		لس شلنگ
۳ :ـ ددریم	« ۱۳۱۳	«	«	٥ نیمی	«	٦ نیمی «	«		«
٤ :ـ دخلرم	« ۱۳۱٤	«	«	٦ «	«	٦ «	«		«
٥ :ـ دپنځم	« ۱۳۱٥	«	«	٤ «	«	٤ نیمی «	«		«
٦ :ـ دشپږم	« ۱۳۱٦	«	«	۱۰ «	«	۱۲ «	«		«
۷ :ـ داوم	« ۱۳۱۷	«	«	۱۸ «	«	۲۱ «	«		«

دکابل د مجلې کلکسیونونه

داول ، دوهم ، دریم کال کلکسیونونه یوجلد په کابل کی ۱٤ ، په ولایاتو کی ۱٦ افغانۍ او په دباندی کی لس شلنگ دی ـ اودخلرم ، پنځم ، شپږم کال ٦ کلکسیونونه په دوو جلدو کی په کابل کی ۱۷ افغانۍ په ولایاتو کی ۱۸ افغانۍ په دباندی کی لس شلنگ دی

دتا گور مرگ

هرسحرسترگی دگل په اوښکو ډکی
په دا باغ کی بې ژړ لو خندانسته
(عبدالقادرخان)

ایا دیوې خولې خندا بدله ده ، چه‌نن دهند دگلونو سترگی سرې اودهغه بلبل په‌مرگ اخته دی چه‌پرون ئې دده په‌نغمو نڅا کوله ـ ؟ ؟

آه ـ بلبلان هم مرگ لری ؟ ؟

او که له دې غم لړلی ، بې‌بقا باغه ئې زړه توربېږی ، پته خوله ویوه بل‌ځای ته الوزی چه هلته . . . . .

څه پېښه شوه ؟

چه‌پرون د (شانتنی کتیان) له‌مکتبه فیلسوفانه اوشاعرانه نغمی اروېدلی کېدې ـ امانن د هغو نغمو په‌عوض دمرثیې حزین آوازونه دی چه دژړا سره گډ دشرق په لو یه فضا کی خپر ېږی ـ ....

خو ـ تراوسه لاهغه اوښکی چه دشرق داقبال له‌ستوری لوېدو سره‌پرمخ راغلی‌وې ، له گریوانو څخه نه‌دی وچی‌شوی ـ ....

نوبیاڅنگه دبل‌نقش وخت راغی‌اودهند دښکلونجونو پرباړخو گانو دمرغلرو په‌څېرتازه تازه اوښکی بهېږی ـ ؟ ...

داځکه چه‌ولاړ !! ـ

هو ـ بیادشرق دفلسفې ، موسیقی ، مصوری اوشعر یوغټ ، روښانه‌ستوری. . . تا گوردفناپه اوریځ ننه‌ووت ـ . .

داستوری (۸۰) کاله‌دشرق‌پرخواځلېدی ، هرلورته‌ئې‌دشعر دابتکارشغلې‌خپرې شوې . دده په‌پلوشویوازی‌شرق نه‌،بلکه‌دنوری‌دنیاوگړوهم لارپیدا کړه‌اوزړونه‌ئی‌په‌هوسېدل...

ده خپل‌ځان دجمع دپاره دشمع په دود وسو . . . او ولاړ . . . ! ! (بینوا)

د هند نومیالی شاعر او فیلسوف

تاگور

ښاغلی عبدالحی خان «حبیبی»

پر دنیا ډېری شپې اوورځې تېرېږی ، پېړۍ پای ته رسېږی ، نوی عصرونه راځی ، انسانان مړی اوژېږی ، قومونه لوړېږی ، او کښته کېږی !

په دې اوښتو اولوړو ژورو کښې نومیالی خلق پیدا کېږی پیاوړی منځ ته راځی ، غښتلی اوپهلوانان نړۍ ته راوزی ! چه دنیا سرنوشت اړوی ، علماء اوپوهان ښکاره کېږی چه بشریت ته نوی لیاری ښیئی ، اوپه نوی ژوندون ئې روږدوی !

داعلماء اوپوهان اومشاهیر اوغښتلی خلق دتاریخ پهلوانان دی ، اوبشریت هیڅکله ددوی زیار نه هېروی !

که په ځیر وګورو ، دبشریت دلوړتیا او کښته والی ، دانسانانو دژوند دتطور تاریخ هم ددې خلقو اعمال او افکار دی ، دوی تاریخ جوړوی ، اوددوی وینی او کړنی بشر لوړوی ، اودانسانانو په ژوندون کښې نوی تطورات اچوی !

که یوعالم دعلم په دنیا کښې نوې نظریه خر ګندوی ، که یو کاشف نوی کشف کوی ، که یوفیلسوف نوې فلسفه پلټی ، که یومفکر نوی فکر وړاندی کوی ، که یوبریالی نوی فتوحات کوی ، که یوشارع نوې لار خلقو ته ښیئی ، که یومنجی یوه اولس ته نجات ورکوی !

داټوله تاریخی میړونه ګڼل کېږی ، داټوله نوابغ دی داټوله دبشر دتاریخ ـ رونړه ستوری دی !

په دې ډله کښې کله کله داسی خلق هم دنیا ته راځی چه ددوی اعمال اوافکار بین البشری رنګ لری ، ددوی زیار دټولو انسانانو دپاره مشترك وی ، دوی چه څه وایی ، یائې کوی ، دبشر دپاره ئې کوی ، او ددوی اعمال او اقوال دیوه قوم ، یوې ټولنې ، یوې جامعې دپاره نه وی !

داسی خلق بین المللی شهرت مومی ، او د ټولو انسانانو په سترګو کښې درانه اومحترم وی !

ددوی تلقین عام وی ، خبرۍ ئې د انسان دپاره وی ، نه دیوې ټولنې دپاره !

جغرافیائې و ښونه ، او درنګ او پوست بېلتون دوی له خپلې لوړی مفکورې څخه نسی را کښته کولای !

ددوی «مینه» عمومی وی ، انسانی وی ، تور ، سپین سور ، زیړدوی ته یوانسان ایسی ، او د ټولوسره انسانی مینه کوی ! داسی خلق د خپلولوړونظریاتو ، او رونړو افکارو په مرسته ، د بشر په ژوندون کښې نوی لیاری اونوی مبادی اضافه کوی ، اودبشر د افرادو دلارښوونی ملونې ددوی په لاس کښې وی ! هغه مبادی چه دوی ئې بنسټ زدی ، اوهغه افکارچه دوی ئې بشر ته وړاندی کوی دهر پیروان مومی ، اوتر ډېره هغه افکار اومبادی پالی .

یوله دغو خلقو څخه چه زموږ په دې اوسنی عصر کښې ژوندی و ، د هند مشهور اونومیالی فیلسوف اوشاعر (تاګور) دی ، چه دوې میاشتی دمخه په هند کښې له دې نړۍ څخه ولاړ !

تاګور په دنیا کښې یو مشهور سړی و ، په هره مځکه کښې ئې هر څوك پېژنی ، د ده شهرت یوازی د هند په خلقو کښې نه و ، بلکه اروپا او امریکاهم پېژاند اودهغونو میالیو شاعرانو په ډله کښې و ، چه د نیاددوی ادبی عظمت منلی دی .

تاګور شرقی سړی و ، په شرق کښې هم د هند و په هند کښې هم د بنګال د کلکتی و ، په دې مادی لغوړنه دنیا کښې دې شرقی نامتو ادیب هر کله د نیا ته د هغو روحانی خوندو او معنوی حظو ظو پیغام ور کاوه ، چه په شرق کښې ئې دهندله ګنو زنګلو ، او بهاندواوبوڅخه

الهام اخیست ، تا گور چه څه لیکلی دی ، کوم اشعار او بدلی چه ده پخپله بنگالی ژبه ویلی دی ، په ټولو کښ د انسانی ژوندون شریفانه احساس سته ، د ده رمانونه ټوله انسان سپېڅلی ژوندون ته بیا ئې ، پاك احساسات اوشریف جذبات سره ښوروی ، انسان ته داښیئی ، چه څنگه باید سړی خپل ځان پاك اوسپېڅلی وساتی ؟ څنگه بایددوجدان هنداره دنفسانی ککړتیاو څخه سپینه کړی ؟ ښایی چه څنگه انسان بشپړ انسان وی ؟

د هند لوی فیلسوف اواورژبی شاعر
را بندرنات تا گور

دتا گور په رومانو کښ به تاسی هیڅکله داسی خبره ونه مومی ، چه د سړی شهوانی احساسات وښوروی ، دده په رومان کښ ککړه معاشقه ، د ښځوسره د اروپا په ډول شهوانی روابط ، اودعشق اومینی په نامه عفریتانه اعمال او حرکات نه ښوول کېږی !

دده په رومانو کښ سپېڅلتوب ، پاکی ، د وجدان صفوت ، ښه اخلاق ، یا که مینه ښووله کېږی ، د اجتماع او ژوندون غټ غټ اسرار پکښ پټ وی ، که د مینی اومعاشقې بحث وی ، هغه به هم خورا سپېڅلی او خوږ او پاك وی !

تا گور د بنگال په یوه شریفه کورنی کښ په ۱۸۶۱ع کال دمی په (٦) وزېږېدی ، پلارئې مهاراشی دیو ندرانات نومیدی ، نیکه ئې شهزاده و ، تا گور د زدکړی دپاره اروپاته ولاړ ، مگر داروپا ژوندون ، د دې شرقی مفکر پیاوړی روح ځان ته تسلیم نکړ ، او تا گورخپل شرقی کلك روح د اروپا په مانیو ، اودعشرت ځایو کښ ورك نکړ !

که څه هم د اروپا پوهانو داشرقی مفکر ښه وپېژاند ، اوپه ۱۹۱۳ع کال ئې په ادبیاتو کښ دنوبل جائزه هم ورکړه ، مگر تا گور خو شرقی فیلسوف و ، ده هیڅکله خپل مخصوص فکر ، اوخپله ځانته فلسفه اوخپل شرقی مبادی له لاسه نه وایسته !

تا گور د خپلی فلسفې اوخپلومخصوصو نظریاتوسره سم په ۱۹۰۱ ع د کلکتې څخه ۹۳ میله لیری په بالپور کښ یوه مدرسه جوړه کړه ، چه نوم ئې (د روغی لوست ځی) و ، په دې مدرسه کښ تا گور په یوه نوی ډول د کوچنو ټودرس وضع کړ ، چه تراوسه دانوې مدرسه د دنیاله مشهورو پوهنتونو څخه ده !

تا گورډېر کتابونه ندی کښلی ، د ده رومانونه او اشعارلږدی ، مگرهر کتاب ئې ځانته د ډېرو کتابوسره ساری کېدای سی ، دتا گوراشعار اکثر په بنگالی ژبه دی ، دده شعر د موسیقی اوتغنی سره نښتی دی ، او دی هر کله خپل اشعار او بدلی په هغه ډول وایی ، چه باید په گڼو زنگلو کښ دبهاندورودوپرغاړه وغږول سی !

د تا گور شعر خوشی بې خونده بدلی ندی ، دی موحدشاعردی ، هر کله دیوه خاضع مریی په ډول د کائناتو خالق ستایی ، او لکه د مشرق پاخه متصوفین د جمال په ننداره کښ غرق دی ، دی ټوله حسن د قدرت دجمال مظهر گڼی ، او دمخلوق له ښایسته ، دخالق قدرت ورته څرگندېږی مثلاً یو ځای وایی :

« هر چېری چه تایو ښکلی مخ ولید ، هر چېری چه دی

یوخوږ زغ واروېد ، هر ځای چه‌دیوه ښکلی بشر نتداري ستاصبر درڅخه یووئی ، هلته دخالق قدرت جلوه کوی ، اوستامینه دده‌دقدرت پرظهور شاهدی لولی »

تا گور که‌څه هم‌شرقی اوبیاهندی شاعردی ، اودده په‌ادب کښ دتصوف اوویدانت رنگ‌ښکارېږی ، اودهند فلسفه‌چه روحانیت ئې‌پر مادیت غالب‌دی ، دده په‌شعر او ادب کښ‌ښه‌ځلېږی ، مگردی په‌دې عصر کښ‌خلق‌یوازی هغې خواته نه‌بولی ، بلکه‌دعملی ژوندون ښې لارښوونی هم کوی ، اوهغه حقایق پخپل‌شعر اوبدلو کښ خر گندوی، چه دژوندون مختلف اطراف او گوتو نه روښانه کوی ، مثلاً ژوندون داسی ستایی :

« زه‌ژوندون ستایم ، ژونددیوه تاندنهال په‌ډول‌دی، چه‌شین اوزرغون وی !

دانهال‌په‌خوراتاز گی له‌مځکی څخه راوزی، اوسرئې اسمان ته‌رسېږی ، رینبې‌ئې په مځکه ننوزی ، ددنیا خالق په‌دې‌نهال کښ‌بدن اواروا پیدا کوی ، ماده‌اووده دواړه سره یوځای کوی، په‌دې‌ترکیب چمتونه ښکلی کوی، اوجهان ښایسته کوی !

زه‌ژوندون ستایم ، چه‌لکه‌غر کلك درېږی ، اوبیاپه مواج بحر گډېږی !

زه‌ژوندون‌ستایم ، چه‌لکه‌د گل‌پاڼی نازك اولطیف دی ، اولکه ډبره کلك او کروړ هم‌دی !!! »

په‌دې ډول‌تا گور دژوندون هره‌خواوینی ، اودانسان سعادت په‌هغه ژوندون کښ گڼی ، چه‌هم لکه گل نازك وی ، هم‌لکه تیږه کلك !

تاسی‌و گورئی ، چه دانسان دهبوط اوارتقاء اسرار په‌څه‌شاعرانه ډول‌تصویر شوی دی ؟

دلته‌دشرق اودهند روحانی فلسفه ،دغرب دعملی او مادی فکره‌سره گډېږی ، اویومر کب مفید معجون ځنی جوړېږی ، چه‌په‌رشتیا هم داوسنی عصردمادی فسادو ،او دمدنیت‌له‌ورانیو څخه جلو گیری کوی،اوهم‌دهند دسپیڅلی روحا نی فلسفی‌تعدیل دی !

په‌اوسنی‌دنیا کښ‌موږ گورو ، چه‌داروپا مادی‌مدنیت لوړی‌درجې ته‌رسېدلی دی ،اوهغه‌څوك‌چه‌اوس‌هم‌دروحانی دنیاالهامات اوزغونه په‌خلقو ارووی ، اوسنی‌مادی‌انسانان ئې‌نه‌اروی ، مگرزموږ شرقی مفکر اواورژبی شاعر پخپلو خوږو نغمو کښ دازغونه په‌دنیاهم واروول ، او دمدنیت په مادی لباس کښ ئې ښکلی دمعنویت غمی کښېنول !

مستریاټ چه‌دتا گور دشعر کتاب « گیتان جلی » ئې په‌انگریزی‌ژبه‌ترجمه کړی‌دی ، په‌دیباچه کښ‌ئې‌داسی‌لیکی: « دابدلی‌په‌ښکلووقایو کښ‌دخانمانو دمیزرونق‌نسی‌زیاتولای ولی‌چه دوی په‌سرو گوتو دکتابو پاڼی اړوی ، او ساده ساده پراوسپلی ، اودغه‌نو دژوندون نتیجه گڼی ؛

دا کتاب دپوهنتونو زده کوونکی هم نسی‌لوستلای، ولی‌چه‌ددوی عملی‌ژوندون‌دوی دې‌ته‌اړباسی ، چه‌دا کتاب پرربپاس کښېږدی !!....

مگر یووخت‌به راسی‌چه دابدلی‌به‌خلق پرلاری وایی، په‌بېړیو کښ‌به‌ئې مانگی په‌خوازه زغ لولی ، مېرمنی به‌ئې دمینانوپه یاد کښ غږوی ، اودمینی هغه‌چینه چه‌په‌دې بدلو کښ ده ، دوی به‌نوی ځوانوی »

دمستریاټ داخبره ژررشنیاشوه ، ولی‌چه‌مادی اروپا هم‌ددې شرقی شاعراو فیلسوف قدر و کئی، اوده‌ته ئې په ادبیاتو کښ‌دنوبل جائزه وښندله !

دتا گور اشعارهغه نغمې‌دی ، چه دشاعر دزړه څخه راوزی ، دمشرق شعراء دنل‌اونغمې سره‌ډېرمینه لری ، مولانای روم په‌بېړیو دمخه دانسان فطرت دنل د زغ په تمثیل خر گند کړی ؤ:

کز نیستان تا مرا ببریده اند
ازنفیرم مردوزن نالیده اند

دادبلتون‌نفیر، اود جدایی کرزی او غلبلې دردمن انسان سره هر کله یو ځای دی ،او داناری غلبلې به‌وی خومری ،

بیدل وایی :

نی کز گفتگو خون‌شد نوای ساز من دارد
بهر جا خامشی بینی زبان راز من دارد

زموږملی شاعر پیر محمد کا کړهم په دې کرزواوغلبلو کښ داسی شر کت مومی :

بیلتانه په غم‌شریك کړم دغمجنو
دهر چا په غاړه ژاړم لکه نی

تا گور چه دخاوورپه دنیا کښ‌تل دلوړی دنیا

سره رازاو نیاز او نجوی کوی ، د خپل ویرجن زړه آرزو او ناتمامه هیله داسی یه شعر کښ ښکاره کوی :

« زمازړه غواړی، چه ستادنغمو او بدلو سره همنواسی، دیوې نغمې دپاره تپېږی، زه تل گډیم، خبری کوم، مگر زما خبری نه نغمه کېږی! نوناچار اوعاجزسم ، کرږی وهم »

ویونکی چه خبردی ، دمشرق دانامتو شاعر اوفیلسوف اومشهور ادیب داسدپه(١٦) د عمر پراتیایم کال په کلکته کښ مړسو، اودنیاته ئې خپل رونړه افکار اوخواږه اشعار پرېښووه ! اوس چه موږ له لوړو ابحاثو څخه د مشرق دانومیالی شاعر وپېژاند، نولاندی دده یوڅو شعرونه په پښتو ترجمه کوؤ، چه ښاغلی ویونکی دده شخصیت ښه وپېژنی :

دهند دمشهور فیلسوف را بندر نات تاگور دجنازې مراسم

لکه دتاگور اشعار چه دیوې پاکی او سپېڅلی دنیا حکایت کوی، دغسی دده نور آثار اورومانونه هم قیمتی دی ، داجتماعی ژوندون ښېگړی او اسرار ټوله دده په آثارو کښ سته، دده یو ادبی شهکار « مېرمنی او نړۍ » نومېږی ، دا ظاهراً یو حکایت دی، مگر بې شمېره اسرار او حکم پکښ پټ دی!

تاگور دیانت داسی ستائی جه: « دیانت لکه دلمر وړانگې دټولو انسانانو پر شاوخوا ځلېږی، اوددې د کشف دپاره ډېرو پلټنو ته هیڅ اړتیا نسته! »

دتاگور آثار په اکثروژبو ترجمه شوی دی ، دده له اشعارو څخه گیتان جلی، پروباهی نی، شیشو، پوروبی، بولاکا او نور ډېر مشهور دی، نوې میاشت، ښوال، ورک مرغه ، زمافکرونه، کوراودنیا، دطوطی ښوونه، دمېوې ټولول اونورهم دده ښه آثار دی! لکه زموږ ښاغلی

(١)

هلته چه خورا بې وزلی ، او خورا کښته او ډېر بېنوا خلق دی !

اې زمابادار ه! ته دهغو مل یې !

هو! ته دهغو سره یې چه تر ټولو بې وزلی او کښته او خواران دی!

کله چه غواړم تاته سجده وکړم، نه پوهېږم زما سجده به تر کومه ځایه وررسېږی ؟ اوچرته به پاته سی؟

هلته چه ته دخورا بې وزلو ملگری یې، زما سجده هلته نه رسېږی!

هو! نه رسېږی هغه ځای ته چه ته دخورا کښتو او خورا بې وزلو اوبېنوا یانو مل یې !

زمادویاړ اوغرو رلار نسته هغه ځای ته !

هلته چه ته دبېنوا یانو مل یې !

زما زړه هلته لار نلری !

هو! ته دهغو خلقومل یې، چه هیڅ نلری، اوتر تولو کښته اوبې وزلی دی ! (گیتانجلی)

(۲)

هغه چه‌می په زړه کښې ځای لری، هغه غو اړم !
دی‌دی !
دی‌دشپې زما اسمان له ستوزواودورځی‌می زنگلونه له گلو را ډکوی !
ځکه‌چه دلېمو کسی می‌له ده څخه دی ، نو په رڼا اوتیارو کښې، تل ښکلی اشکال اوانځورونه په وینم .
ځکه‌چه‌دی می‌په یاد دی .
نومی دپسرلی وزمې دبدن هرو ښته پرنځا را ولی او نابیره دده پیام زما دبیخو دانه نغمې‌له منځه راوزی !
له‌لمړی څخه ترپایه دی،زماسره دی، دده په‌شوق او ذوق ، زمادژوندون و ختونه سرشار دی .
(پرو باهی نی)

(۳)

هغه پټ راز چه زما په‌زړه کښې‌دی، زمانل په هغه خبردی !
هغه‌راز زماپه زړه کښې پټ و .
چاته‌می ښکاره نکړ -
بیله‌دې چه‌دخپل نل‌په غوږ کښې‌می وغږ اوه !
په‌هغه توره شپه کښې خوب نه راتی ،
ستوری می شمېرل چه‌شپه تېره سوه !
هیڅوك می‌شا وخواته ویښ نه‌وه !
بې‌له هغه نله، چه پخپلو نغمو می ویښ کړی‌ؤ !
(پرو باهی‌نی)

دمرگ خزان

نوبهار راغی له باغ سره اشنا شه
دغنچې درباط در په وا کېده دی

په‌سروستر گو ئې ژړل ځینی جدا شوه
قافله د ر نگ و بو در و می سبا شه

❀ ❀ ❀

چه جرس ئې خا لی نه شوله فغانه
مگر وژاړه پر ها دسیل دزر کو
چه مشغول په تماشا دنو بهار شوم

قافله د ه د دې دهر سر گر دا نه
چه په سروستر گو راځی له کوهستانه
هیڅ حاصل می په کی نو بې ار ما نه

(کاظم‌خان «شیدا»)

ادبیات

سپوژمی ته خطاب

پښتو ټولنه خو په ټولو قواو دملی ژبی وخدمت ته حاضره ده . له هری لا ری څخه چه وی او په هر څه فدا کاری چه ممکن وی ددې مقدس مقصد معشوقه به په غېږ کښ ونیسی. دژبی دلوړ والی مهم رکن خوا دبیات دی ، نو ددې لا مله پښتو ټولنه غواړی چه کله کله یوه کوچینی مشاعره چه ښه خوازه څوازه نوی مضامین ولری دویونکو دخوښی د پاره په دې مجله کښ نشر کی .

دا به دهغو ذواتو دپاره چه داد بیاتو سره ذوق لری ښه سر مشق او سمه لار سی -

نو په دې شماره کښ پورته طرحه ټاکلې شوې ده چه ځینو پښتنو فضلاؤ دخپلو لوړو افکارو اظهار پدې خطاب کی کړی دی

هو- سپو ږ می خو په شرقی ادب کی ښه موقعیت لری او هغه خیال چه ژوندی وی ښی لوبی ورسره کولای سی ، کله ئې دمعشوقی دلاس وښی او کله ئې په خپله معشوقه کی ، کله ئې عاشق دځان په څېر لېونی او سرگردانه بولی، کله ئې داسمان لوراونجلی ستایی -

خو په هر صورت یوه خوږه موضوع ده چه موږ ئې وټولو لیکوالو ته دویلو توصیه کوو -

په اوسنی ادبا ، و کښ ښاغلی « حبیبی » او ښاغلی « الفت » لا دمخه دسپوږمی سره خبری کړی وې ، چه ډېری خوږې او خوندوری دی ، نو موږ ئې بیا دلته راوړو :-

(بینوا)

زه، اوسپوژمی

ښاغلی سید شمس الدین خان « مجروح »

د اسمان لمنی سر ې د ی که د غره په څوکه اور د ی
هلته څه ډ یو ه بلېږ ی ؟ د مشرق پرې رڼا کو ر د ی
د ا خـو هغه ا فق نـه د ی چه یې گورم ډول یې نوردی
یا لمبه ده چه لویدلې ؛ د اسمان په درمنده کی
یا پیلوزی چار اخستی ؛ لټو ی به خپلی ور کی
آ خ د غره په سر ر اخیژ ی څه صورت ن ی ؟ څه هیکل د ی ؟
نه خو نمر د ی نه خو ستو ری نه فانوس دی ؟ نه مشعل د ی ؟
که د توپ د خو لې لمبه ده ؟ گنې غره په سرمور چل دی ؟!
که دنوربیږی ده ښکاری ؛ داسمان په سمندر کی
اچولی یی لنگر و ی ، ده و لاړه په بنـ ر کی
داچه ښکاری ستورو منځ کښ گنې د ا د و ینو جا م د ی ؟
یا تـو ی شو ې مـر غلر ی د غـه یو پـکښ ر خـا م د ی
یا فـلـك د ا نې ښنـد لـی پټ یې ا یښی چر ته د ا م د ی
یا کیږدی دورایه ښکاری؛ اسمان نه دی شنه صحرا ده
یاخر گـاه د کم امیرده ؛ یا خیمه دا د لیلی د ه
یـا آ ئینه د ه چـا نیـو لـې ښـکـلی مـخ د خپل ا شنا تـه
یا ډ یـو ه د ه چـه بلېږ ی د شهید د قبـر خـو ا تـه
په پتنگ نو څه بلا شـو ه چـه ر ا تغی د ې ر نـا تـه
نه ! د مستی آ ئینه ده ؛ چه لویدلی یی د لا سه
یادی تیك د سرو خوزیږی، د کم تو راوربل د پاسه
نه پو هیږ م څه ښا د ی د ه ! به ا سمان کښ څراغـا ن د ی
جو ړ ه دا ا تشبـا زی د ه ؟ د فلك کوریږی ر و ښان د ی
یا دا نور څه تشر یفـات د ی لو ی قند یل دی او یز ان د ی
یا لو ید لې همیانی نه ؛ د فلك د ا اشر یی د ه
یادغره پسر راخیژی ، څوارلسمې شپې سپوږ می ده
بیـا د ځمکې سیل له را غله د ا سپو ږ می د ه نـا ز و لې
زړه یې تنگ شه په خپل کور کښ ر ا ښکا ر ه شو ه ځکـه غلې
ر ا ر و ا نه به نخر و د ه د غـر ه سـر تـه ر ا ختلې
د فلك دبو ډ ی لورده ؛ د اسمان په بام ولاړه
شرق وغرب ددی دنیایې؛ دنظر لاندی دی دواړه

نه یې سر باندې ټیکری سته — نه یې مخ و ته زړو کی
ټول وجودې تری ښکاریږی — دې اغوستی نرې ټوکی
هر سړی ته په خندا ده — که زوړ ځوان دی که وړو کی
بیبا کی یې ده زده کړې ؛ د یورپ د جنکو نه
حجابو نه یی کړه څیری ؛ را و تلې دپر دونه

سپوږمۍ تا لیدلی ډیری — د دنیا تو دې سړې دی
اوریدلی لا سندری — څو مره تا ډیرې خوږې دی
دوه مینو ته خلوت کښ — کړی تا ډېرې پهرې دی
مریضانو سره دی کړی تر سحره شو گیرونه
مساپرو سره دې کړی په بیدیا کښ کمکونه

هنگامې د جنگجویانو — که یورش که شبیخون و
که چنگیز که هنیپال و — که تیمور که ناپلیون و
واقعات دی ټول لیدلی — که دنن که د پرون و
ټول تاریخ د زمانې دی ؛ پروت په سپینه سینه ستا کښ
تماشې دی ډېرې کړی ، به بابل او په نینوا کښ

سپوږمۍ ! غوږ کیده لږماته — زه به وکړم څو خبری
تماشې دې نوری کړی — واوره ځما خوږې سندری
دنیاور که ! ورك یې نوم شه!! — له دې خاورې گرزه لری
دا ځما واوره ځان تری غونډ کړه ، راښکاره چه نشې نوره!
دا کوڅه دبدنامۍ ده ، گوره ته به هم شې توره

دلته ټوله بدبختی ده — نور څه نشته بې زحمته
یو دغم توره تیاره ده — که یې گورې پورته خکته
معشوقې یې لباسی دی — اشنایان یې ټول بې پته
څوك دچانه پکاریږی ، په هر ځای ځان له ځانی ده
دانسان بیړۍ اوښتې په دریاب کښ طوفانی ده

دلته څه دخوشحالی دی — ښه یې کمه تماشا ده ؟
که نن گل سوه غوټۍ باغ کښ — رژیدلې بیا سبا ده
یوه ورځې سمسور باغ وی — بله ورځ خوشې بیدیا ده
پسرلی پسې خزان وی ، ښادی نه ده بې له غمه
دژوندون احوال که غواړی ؛ تپوس و که له شبنمه

داد پر یاد دکنډو رنډو — دغه ساز دغه آواز دی
یا بندی بلبل قفس کښ — داو بو دانو متاز دی
یا یتیم دی او ښې توئی — زمانې ور کړې ناز دی (؟!)
ژوندون دلته وریځې غونډې ؛ سلسله یوه ژړا ده
که یوه خوله چریې خندا وی ، هغه هم دبریښنا ده

که نظام که اجتماع ده — دی ولاړ د ځان په مینه
دلته مرګ د ضعیفانو — بهر نه دی له آئینه
ډرامه، د تراژدی ده — نور څه نشته مه یې وینه

یو د مرګ د فن استاذ دی، د انسان دایې کمال دی
یا اکل دی یا ماکول دی، د اعالم دایې احوال دی

د هر چا په ځان نظر دی — یو له بله بیزاری ده
پر دی غم پری نیم اختر دی — دا منطق دی؟ هوښیاری ده!؟
یو د بل په غوښو پائی — دلته ګیډه دینداری ده

د درانه پیټی د لاندی، د چاملا سوله راماته
څوك د بل په وږو سوروی، نظر نه کوی هیچاته

زړه می شین کوګل می خوړین دی — له دې ټیټه له دې پاسه
که می څیری ګریوان وینې — دا می دی له خپله لاسه
سپوږمۍ خدای روی می دروړی — ما له دې ځایه وباسه

ما هم دروله چه ګورم، دې عالم ته له آسمانه
یا به سترګی کړم تری پټی، زړه می توردې له انسانه

دی انسان په شرق غرب کښ — د ما دی میو بیهوشه
زړه کښ مهر او مینه نشته — ده د عشق ډیوه خاموشه
هر سقراط د زمانې یې — کړه د زهر و پیاله نوشه

ته دې خپل ځان تری پناه کړه، په تورتم کښ پریږده ځمکه!
په ښایست می د زړه سوزی ور سره، چه نشې ورکه

سپوږمی!

ښاغلی عبدالحی خان «حبیبی»

د اسمان سپینی سپوږمیه — مخ دی روڼ، تندی دی ورین دی
شاه خوا دی پلوشی ځی — په رڼا دی تور بڼ سپین دی
د ویر جنو خواله ګری — راسه زړه می ډېر غمګین دی

راسه زما ګرانی پی مخی
چه یو دم د زړه خواله کړو
سره کښېنو لاس تر غاړه
خوا په خوا سره پاله کړو!

ښکلی پېغلی مه شرمېږه — پټ دی ولی تر غره مخ کی
ته یی زما زړه ملګرې — تل به نور و پر موږ رخ کی
به کوچنی والی هم ته زما وې — ما به تا ته تل اخ اخ کی

چه کوچنی وم ما بللې -
ته (الا کو کو) سپوږمی
د (آسمان پېغله) دی بولم
اوس پی مخی ګلالی -

له هوا ده لیری گرزم — زما په زړه پوری ملگری !
د وطن بل څوك خو نسته — د لته یم یوازی لیری !
نه خوا ږه یاران خپلوان سته — نه د دوی خوږې خبری

یوه ته یې زما ملگری !
را سره یې له هوا ده -
هم هوری یې هم دلې یی
خدای دی تل ولره ښاده

چه زه درومم ، ته هم درومې — چه زه ناست یم ، ناسته ته یی !
په ځغستا را سره ځغلې - — چه بیده یم ته بیده یې
وفادار ه ښکلې پېغله — ته سپوږمۍ ، که پښتنه یی

ستا وفاد پښتنو ده
د اسمان پېغلی نجلۍ - !
په خوی ښکلې پښتنه یی
د غمجن مین شهۍ -

د سپوږمۍ سره

ښاغلی قیام الدین خان «خادم»

د گل د بوی غوندی بې نیازه له صورت ومه زه — لکه آینه پخپله ځان وته حیرت ومه زه
داور کی هسې د خپل زړگی په تا والوتم — نه چه طائر د څو ښکو په دولت ومه زه
په شنه دریاب کښ دجهان لکه خیال دشاعر — و هرې خواته په تلاش د حقیقت و مه زه
واړه دنیا را ته بټی وه د دوزخ په مثال — روح دشهید غوندی ترې تلم مخ په جنت ومه زه
پورته عالم په پلوشو کښ واړه ډوب لیده شو — ډېر پرېشانه ددې ځمکې په ظلمت ومه زه

ځمکه خو جوړه ده جگړو اوهم جنگونو لره
وم په سودا نظام د پورته اسمانونو لره

څه ښه عالم دی شنه فضا بل مثالونه پکښ — لرې نزدې واړه اوغټ دی سره لعلونه پکښ
واړه مسکی دی په خندا اوسترگکونه وهی — وی به داڅه ؟ اووی به څرنگه سیلونه پکښ؟
که هری خواته په وزردبرېښنا والوزی تل — خیال دشاعر به شی عاجز که وی کالونه پکښ
ده کهکشان وچه ویاله له مرغلرو ډکه — که شین کمیس دی ستارې ایښی خالونه پکښ

سپینې سپوږمی ته به ورځم ترې به پرسان کومه
څه شکایت به هم له سخت زړه دانسان کومه

سپینی سپوږمی ! ای چه دخوږ زړونو همرازه ئی ته! — په زړه کښ داغ لرې اگاه له سوزوسازه یی ته!
ستا په رڼا کښ کاروانونه تر منزله رسی — په شپه قلاره کښ دویښ زړونو دمسازه یی ته!
نه لکه ستوری دمجنون له شرمه مخ پټوې — نه لکه نمر هسې دهر څه نه بی نیازه یی ته!
دا بیحسابه ستوری ستا لمن کښ رقص کوی — ته لکه مور یی چه به هر یوه فیاضه یی ته!
ستا په سینه کښ چه تصویر دوصل ښکاری همیش — ترې ده څرگنده دعاشقو چاره سازه یی ته!

په څه سبب کله نری شې لکه ښکلې تو ره ؟
شپه لکه سترگی دهوسۍ شی بی دستا دنوره ؟

په دې فضا کښې عالمونه هسې شان شته دی
چه یې انسان ته نه څه فکر نه گمان شته دی
سل زره لکه کروړه داسې لکه ستاسو جهان
په دې فضا کښې عالمونه اوږان شته دی
داچه دستور و په صورت ښکاری تر ډېرو دی لږ
واړه کرې دی هسې نورې په اسمان شته دی
داسې ینه لیکه د اسمان ده دکرونه جوړه
ددې په شانې په خو زرو کهکشان شته دی
په یو نظام دا عالمونه یو تر بل تړلی
یوه ذره په بل رقم کله امکان شته دی

هر یو وړوکی دخپل لوی طاعت وپاس کوی
بې نور ه هم له منوره اقتباس کوی

دا کائنات دی له ازله دغه کار کوی
څوك دی ولاړ څوك په یوه تګی رفتار کوی
دوی خبر ندی چه مونږ څه کوو دغه دپاره
بې له مطلبه همیشه کوشش وز یار کوی
سوز د آرزو، خوندد کوشش دلته راغلی ندی
تر ، قیامته د لته ژوند واړه نا چار کوی
چه تر اسمانه په وزر د ازادی الوزی
هغه انسان دی : چه ژوندون په خپل اختیار کوی
د کائناتو زړه آدم ، دده زړه عرش دالله
ځکه سجده ورته اسمان دانکسار کوی

چه جهان زوړشی دوباره یې په ښه شان جوړوی
په خپله خو ښه سره بل نوی جهان جوړوی

سپوږمۍ !!

ښاغلی گل پاچا خان « الفت »

داسمان په زړه کښې ځای دی تانیولی
توره شپه دی په سپین مخ باندی رڼا ده
ددې ځکې مخ دی ټول دی لټولی
دخو بانو در سره زیاته سودا ده
په رڼا کښې دی تمام جهان لیدلی
راته وایه چه په کوم کور کښې لیلی ده؟

کوم چمن لری تازه تازه گلونه؟
راته وښیه ښایسته ښکلی مخونه

دا نړۍ شوه رڼا ستا له برکته
دښایسته ستورو امیل دی ستا په غاړه
څه چه شوی په دنیا تر دی ساعته
تا لیدلی ښه او بد د جهان واړه
زمانه پیدا شوه ستا له حرکته
شرق وغرب ستا له نظر لاندی دی دواړه

فرعونان دی که خوبان که نازولی
تا په ځیر ځیر هر یوه ته دی کتلی

په کعبه اوبت خانه کښې لیدل کیږې
نه پوهیږم چه له چا سره آشنایی
په هر ځای او هر وطن کښې ستایل کیږې
هم په غرو هم په سیندو هم په صحرا یی
په خو ژبو په دنیا کښې بلل کیږې
د تمام عالم ښایسته ښکلې لیلی یی

څه دپاره د اسمان له شنه پالنګه
راکوزیږی غورزوی ځان له گرنګه

ښه پوهیږم تا هم زړه په چا بایللی
ځکه غرونه او رغونه لټوې تل
محبت دی پخپل زړه کښې دی ساتلی
په خو بانو پسی ستر گی غړوې تل
د دلبر وقدر تا دی پیژندلی
لاس او خپی د دلبر انو ښکلوې تل

آئینه یی نازولی در ته گوری
ځکه ستا له مخه نور په هر ځای اوری

څه چه تا کله لیدلی پښتو نخوا کښ — را ته و وا یه هغه تمام حالونه
څه تیر شوی پدې خاوره اوهوا کښ — څه شوه هغه پښتنی قوی عزمونه
پښتنو روزل د تو رو په رڼا کښ — ننګیالی او تو ریالی خپل او لا دونه
ستا په وچولی کښ ځمونږ تاریخ ځلېږی
د پښتون د توری برق نه محوه کېږی

تا زمونږ غزنی لیدلی قندهار هم — ګوره ! هیر نکړی زمونږ بلخ وباختر ته
را ته ووایه احوال د ننګهار هم — هره شپه ښکلوه ګټی د خیبر ته
ښکلوه دهر پښتون قبر ومزار هم — ښه ډیوه د دې وطن شه تر سحر ته
په دې غرو کښ پیدا شوی ننګیالی دی
په دې خاوره کښ پراته ټول توریالی دی

تا لیدلی دوه مین غاړه په غاړه — نندا ره دی کړیده د عاشقانو
ته دهر چا په سر باندی یی ولاړه — را ته ووایه احوال د رنځورانو
په دنیا کښ کوه فخر مدام ویاړه — تر سبا در ته کتلی دی خوبانو
دهر ښکلی څنګ ته ځان تارسولی
دخوبانو غېږ کښ تا ځان اچولی

ته په غم ښادۍ کښ یی زمونږ ملګری — را ته پاتی د پلرو د وخت رڼایی
په اسمان کښ هم له مونږ نه نه یې لری — ټوله شپه زمونږ په کور کښ تر سبایی
را ته و کړه د پلر و نیکو خبری — ته له تیر و پښتنو سره اشنایی
ستا په مخکښ چه پیدا شوې توری لړی
پښتنو لری کړی څنګه دالو خړی

بیټ نیکه تمامه شپه دغرولمن کښ — د پښتو مناجات ویلی تر سهاره
دغزا خوږې سندری دې وطن کښ — ارویدلی شهاب الدین له ملکیاره
پښتنو دی ارویدلی په اټن کښ — ښې سندری هغه وخت له بختیاره
ته دهغه وخت سپوږمۍ یی تکه سپینه
سړ بن غرغښت کتل در ته په مینه

خوشحالخان ستا په رڼا کښ ګرزېدلی — د تیرا دلوړو غرونو په سرو کښ
هر پښتون چه ننګ د پاره پاڅیدلی — تالیدلی په جنګو او په جګړو کښ
پښتنو په سر و مال وطن پاللی — دا تاثیر شته پدې خاوره او اوبو کښ
تالیدلی ویرو ونکی منظرې دی
د دې غرونو کړی تا ښې ننداري دی

تالیدلی سپینی توری په جګړو کښ — پښتانه ځوانان په وینو لمبیدلی
دی معلوم درته زمونږ په ادیرو کښ — احمدشاه، میرویس، نادرغوندی ښاغلی
داشنه بوټی چه ښکاریږی غرورغو کښ — داوبو په ځای یی زمونږه وینی څکلی
تا داشین چمن په وینو سور لیدلی
تا زمونږ د دښمن مخ دی تور لیدلی

وریدلی چه‌په‌دی غرونو ږلۍ دی — بهید لی پکښ خړ خړ سیلا بو نه
راالوتی چه پدی وطن سیلۍ دی — تالیدلی دلته سخت سخت طوفانونه
لاهماغسی ولاړی زمونږ کیږدی‌دی — نه‌مړه کیږی په‌هیڅ شان زمونږ اورونه

تا زمونږ په‌شان لیدلی کوم ټبر دی؟
مونږ مات کړی مدام سدد سکندر دی

سپوژمی ته خطاب

عبدالرؤف «بینوا»

د آسمان لو یه دنیا کښ — ته سپوږ مۍ ښکلی زیبا یې
رنګ الو تی ګو نه زر د ه — ته ویشتلې په زړه چا یې ؟
جو ړه زما غوند ی غمجنه — څوك دی نشته یك تنها یې
خپل ښائیست درپوری اورشو — که له یا ر ه بینو ا یې

را ته و وا یه له مینی
څه د ر شوی ناز نینی؟

لا لها ند ه سره ښو رې — په‌شپه هر ځای کی ولا ړه
محبت یو په ا و ر سو ی — را سه کښېنو سره دواړه
زه به تا ته زړ ګی تش کم — ته و ما ته لا س تر غا ړه
غم د مینی به نیمی کړ و — به یوا زی سرمه ژا ړ ه

ښا ئیسته یې ګلا لۍ یې
د آ سمان پېغله نجلۍ یې

لکه ا وس چه یې پخوا هم — د مینو هر ځای مله و ې
خوار مجنون که پر سار او — ته هم سمه ور سر ه وې
د شیرینی حال دی و لید — دفرهاد په غم کی ته وی
چه به ر ا ز د مینی خپو ر و — د هغه مجلس ډ یوه وې

مقتو لان د عشق لیدل تا
په ورو ورو به‌پرې ژړل تا

د آسمان پر غولی ګرزې — تا د شرق عظمت لیدلی
راز ونیاز دکوه طور دی — له مو سی نه غوږ ائیستلی
د بلا ل د ا ذ ا ن ږ غ تا — پردې خا و ره ار وېدلی
هم ګرېوان ته در سول دی — په تعظیم ځان غور ځولی

هغه وخت دشرق رفعت و
پر مغر ب با ند ی ظلمت و

په او بو کی سره رېږ دې ښا یسته دی په تا غر و نه
ستا ر نها ته هوسېږی د رېدی ښکلی گلو نه
د زلمو زړه ته ور تېره خوښ په تا دنجنو زړو نه
ستاپه‌ښو شغلوکی غواړی مینان خپل امید و نه
و فا دا ر ه معشو قه یې
د عاشق د زړه ټوټه یې

دمجروح مین زړ گی یې سپوږ می ښکارې وجهان ته
د همزو لو له ټو لیه - بینو ا تللې آ سمان ته
چه الفت دی په کښ‌نه‌لید شوې په قهر و انسان ته
یوخوا خوږی دی ونه مو ند چه‌هر څودی کش کړه ځان‌ته

ټول بې‌درده ، درد من نشته
ټو ل بې غمه ، غمجن نشته

داسمان لور

ښاغلی گل پاچان خان « الفت »

چه د هر سړی دتو ری شپی رنها ده چه ښایسته ورباندی غر دښت وصحرا ده
د اسمان گلا لی لور سپینه سپوږمی ده لوڅ مخ گرزی ته به وایې یو رپی ده
یوه ورځ دلمر په خوا کښ‌شوله ورکه نه اسمان کښ چا لید له نه په مځکه
ټو ل عا لم یی منتظر و ؛ د لید لو هر سړی غواړی له زړه دیدار دښکلو
بله شپه چه لمر لو ید لی و ، ما ښا م و تما شو ته یی و تلی خاص و عا م و
هر چا دوې‌ستر گی نیولی و ی اسمان ته د غه ښکلی محبو بی ما ه تا با ن ته
د شفق له سره سا لو سپو ږ می د نیا ته خپل مخ لگوټی ښکاره کړ، هری خو اته
چه ئې ولید زیات هر لور دارومدارخپل هم تما م عا لم مین او خر ید ار خپل
نو را ضی شوه د خپل مخ په لو څو لو نیت یی و کړ د پلو لر ی کو لو
دې غو ښته چه د خپل حسن په ا ظها ر نور هم زیات کاندی خپل قدر و اعتبار
مگر ور ځ په روځ یی قدر ور کید لو ا همیت یی په عا لم کښ کمید لو
څو ار لسمه شپه بهر شوه له نقا به بیخی و و ته د ستر له حجا به
رنها ئی یی دمخ هر طر ف خو ره شوه پخپله حسن او ښا یست ډیره غره شوه
نه یی ستر گو کښ څه شر م نه حیا وه زښته ډ یره بی پر وا او خود نما و ه
یو سا عت وروسته یی مخ توره تبی شوه چه د دې له مخه توره دانړی شو ه
د خسو ف اسما نی تند ره‌پری نا زل شه نه‌پوهیږم څه پری و شوه حال یی بل شه
ور ته پا تی نه ښا یست شو نه څه قدر لکه مخ دگنا گار تو ر شو دا بد ر

ښا یسته نجونو لیدلی دی دا حا ل
ځکه سا تی پلو لاندی خپل جما ل

د مکتب ترانه

ښاغلی امین الله خان «زمریالی»

ای وطنه ! ستاپه غېږ کښ یوروزلی — ته مومورېې موږ دی ستاشیدې رودلی
تل یو ستاپه لولمن کښ موږ پاللی — هم پلرونه نیکه گان موتا ساتلی
هېر به نکړو ترابده ستاحقونه

موږ به وکړو څوژوندی یوستا ساتنه — هم به لوړه ستامانۍ کړو په پوهنه
هم به وکړو داولاد دی ښه روزنه — د غلیم او ددښمن دی تل تر ټنه
که موږ ووساهو اولاد رښتیا مړونه

موږ به تل یو فدائی وخپل پاچاته — ځکه دی ښه روزونکی موږ او تاته
هم مو بیائی دنهضت ولوړی خواته — داله ده ده لار ښوونه وهر چا ته
موږ به جار کړو تر دې شاه او تاسرونه

داخبره زموږ په ټینگه اورښتیا ده — هم حاصل مو دپوهنی ستالوړتیا ده
هم رضا دخدای رسول دشاه رضاده — هم مو هیله له پاك خدای ځنی هم داده
چه وطن اوشاه ته وکړو خدمتونه

* * *

داستقلال خوشحالی

ښاغلی پردیس

نن اختر دخپلواکی دی ځکه هر پښتون نازېږی — پښتونخواکی خوشحالی ده یو تر بله تول جارېږی
پښتنو ملی اختر مو بختور دی ښه په پوه سی — په ارمان دداسی ورځو ډېر سرونه قربانیږی
پښتنواله مو کی ټینگه په قدم دپلرو ولاړ سی — پښتنو ! په دی عمل مو پښتو نخوا ښه ودانیږی
ورور گلوی موهېره نه کړی یو تر بله ځان واری کړی — خوابدی نه کړی برسیره چه اساس موخرابیږی
معارف وطن کی عام کی په صنعت هر یو پوه ځان کی — علم زده کړی چه په علم تیاره زړونه رڼا کیږی
ځان چمتو کی و کار وته ټنبلۍ څخه لری زغلی — وزحمت ته ځان تیار کړی چه ملت موهوسا کیږی
دقرآن په لارروان سی داسلام رسۍ کی ټینگه — په دی لار که څوك روان سی بیاهېڅکله نه خوارېږی
ټنبلی مه کړی هېڅکله د پلرو کا روته گوری — چه دد وی ښه صنعتو ته عالم ټوله حیرانیږی

دا اختر مو بختور سه مرا دو نه مو تر سر سه
کارموورځ په روځ بهتر سه چه موزړه په خوشحالیږی

تیگور

ښاغلی صدیق‌الله خان «رشتین»

دبنگال زلفی شوی توری نن له غمه
دماتم توری پردی په هند خوری شوې
بیا دهند په میخانه کښې ژړا خیژی
داژړا ده چه دهند برخی سپیرې شوې

❀ ❀ ❀

دادب په‌نازولیو فلك خوا کړه‌خپله‌یخه
چه ئی واخست دتیگور غوندی بلبل
داقبال دغم غوغا لا خاموش نه وه
چه پیدا شو د تیگور د غم غلغل

❀ ❀ ❀

تیگور خوك‌و دادب د آسمان نمرو
پلوشی ئی دتأثیر خپری دنیا کښې
که یورپ کښې گوته او شکسپیر وو
ووتیگور او اقبال دواړه په‌آسیا کښې

❀ ❀ ❀

تارا وړی وی خوږې نغمی دنیا ته
ستا نغمې وی ستا دسوی زړه آواز
په خوږوخوږونغمودی‌خلك‌بیهوش کړل
چه‌دی شعر کړه رنگین په سوزو ساز

❀ ❀ ❀

ته کامیاب په‌خپل‌ژوندون کښې‌یوشاعروی
تا میوه د خپلو لاسو ولیدله
تایالل به هلکان شانتی نیکتیان کښې
تا به دوی ته هم دسوز نغمه ښودله

❀ ❀ ❀

یتیمان شول لحکه واړه ستا په تللو
خوك ئی نشته نور دغم اوغم خوړلو
نه دسوز اوساز سبق به بیا وو اګی
نه ئی شته دی خوك دفکر دروزلو

❀ ❀ ❀

ستادسوزنارووېده زړونه راویښ کړل
براد کاست چه کړی تاتولی له بنگاله
توردریاب ئی له مستی په‌چپو راووست
داسی‌مست شوچه‌اوس نه‌گرځی له خیاله

❀ ❀ ❀

ستا نغمی شولی خوری تو له دنیا کښې
پری ئی نښوی دمغرب لوړی جوری
په مزه مزه چه لاړی سویلون ته
نو ئی راوړی له نو بله مرغلری

❀ ❀ ❀

په عالم کښې دادب داسی خرگندشوی
چه ممتاز په جاپزه شوی دنوبل
هیر به نکړی زما نه گیتا نجالی دې
قیمتی و له سر و لعلو یو پسه سل

❀ ❀ ❀

واړه عمردی کړو تیردادب باغ کښې
رنگارنگ گلان‌دی تول کړه‌لدی باغه
ته دخیال په نیلی سور شوی هرپلو ته
تارا تول کړه سره ریدی له هره راغه

❀ ❀ ❀

تا دخیال مارغان را پا خول له جالو
پری دی نښوه کاشانه هم دعنقا
هم په باغ کښې هم نوا شوی له بلبله
هم ملگری شوی دزرکو په صحرا

❀ ❀ ❀

گاه به وو تی هو سو سره راغه ته
کله وی به دغر خو سره په غرو کښې
کله لاړ به شوی کبانو له دریاب ته
کله وی به د کشمیر دغرو سرو کښې

❀ ❀ ❀

پری‌دی‌نښو ده‌هیڅ‌شی‌دخیال‌دنیا کښې
له هر شی سره دی وی دناز خبری
نن دی ولی ژ به بنده له وینا ده
نه راخیژی ستا خوږی خوږی سندرې

منثور شعر

سعادت

دښاغلی عزیزالرحمن خان
دمعارف دتدریساتو رئیس ترجمه

(تیدورپالوف)
دغرب دادبیاتو نمونه

هغه ډیر ښکلی اولطیف ؤ .
آیاڅه کمبوتی ئې درلوده ؟
. . . . سعادت .
اشتیاق ئې لکه سیوری ، په بی رحمانه طور تر شا پرېښود.... سخت اشتیاق .
ده کری ورځ کتل، ریږدیدلی سوی زړه ئې داشتیاق په منګلو کی و
دده له امیده ډك نظر په یوه مجهول قلمرو کښ په کتلو بخت ؤ.
دڅه دپاره دونی مشتاق و ؟

د کوم شی دپاره . . . . دهر شی دپاره !
بلبل په ښه آواز سره دسره ګل غوټۍ ونازوله .
ټوله شیان پټه خوله اوهر ارویدونکی بی ساؤ ـ افلاك، ستوری ، حتی سپوږمۍ یودبل په ملګرۍ سره ودې نغموته، غوږ نیولی ؤ .

دوی اروېدې ـ په عشق اوخوښۍ کښ ډوب وه
په دغه وخت کی چه بلبل لږڅه درنګ و کی ، یوه دخوشالۍ « آه » اوعاشقانه هیله په نړۍ کښ خپره شوه ـ مځکی له خپلی سینی څخه نرمه « آه » ویستله دا « آه » وونو، وښو، ستورو اوسپوږمۍ ته ورسیده یوه نه لیدونکی تلا نګه (انعکاس) دلېروغرو په سرو کښ ورکه اومحوه شوه ـ
هر شی په ویده عشق کښ آه ویستله اوپه دې آه کښ دمړاوی عشق اشتیاق نغښتی و ـ
بلبل وږغیده .... دسپوږمۍ رڼا دسرو ګلونو پاڼی اومین بلبل په خورانرمۍ سره په غېږ کی ونیوه ـ ستورو دعشق نغمه واورېد له په لطیف اوالوتی مسکی (تبسم) سره ئې شاعرته تشویق ور کی : ـ « نغمه وایه ـ اې محبوبه ! نغمه وایه »

بلبل پخپلو ښکلو نغمو کښ بخت و ، د عشق په انګار کښ ئې خوښی کوله ، هر ګړی به ئې خپل زړه نژدې نژدې کاوه او دسره ګل د غنچې پر سینه باندی ئې و نښود نیازئې وکی : ـ

« خپل ځان وسپڼه اې شیرینه ګله ! ....
یووار پریږده چه ستانوی بوی ماته راورسیږی اوزه خپل سر ستا په سور خو لو پاڼو کښ پټ کړم »
پردې توګه بلبل دشپې تر پایه تضرع اوزاری کوله ، ښه ښه نغمې ئې وویلې ورېسته ئې ورووروآهنګ کمزوری کېدی دناراضۍ آرزوئې په آواز کی لوړیدله ، تر پخوائې ډیر آهونه وکښل، څو په پای کښ مطرب پټه خوله شو، نرمه اوږده آه ئې ویستله اوپه دغه آه کښ چه دسرو ګلونو دبوټو په منځ کښ ډیره موده پاته شوی وه دژړا آرزو وه ـ اونه منلې شوی آرزو ....

یوزلمی له یوه مهاله څخه هلته ولاړو، د بلبل نغمه ئې ترهغه وخته واروېده څودی چپ سو او دشپې دبیخوابۍ زحمت ئې پراوږو وا خیست :
ایانورڅه ؟ دده په روح کښ د آرزوداړونکی چنجی ننووت دده زړه ئې خوراتینګ ونیوه .
ځلمی دزړوونو ترسیوری لاندی پر شنه کبل باندی شپه اوروځ رغښت ، ورون اسمان ته ئې کتل .
یوه نرۍ وږمه والوتله د ښاخلو په منځ کښ تیرېدله پر پاڼویې لاس تیراوه نو د وښو د تیغو څوکو په نرم تبسم سره سپك حرکت وکی .
لوړی ونی اوغټ ښاخونه پټه خوله بی حرکته پاته وه

په آرامۍ سره ئې سا کښله ځکه چه د رانه خوب غلبه پر کړی وه مگر په دی خوب کښ لو ی اسرار پټ و ،

نرم نسیم سو که سو که دد وی په منځ کښ ر غښت ددوی پاڼی ئې ونازول ، ځکه چه پر دی بېر ېد ی چه ددوی هوسائې ته به خلل پېښ سی ښائی چه د ی ځلمی به ددوی په دې خواږه خوب کښ خپله آرزو لټوله

ده دغره د څڅو بی (آبشار) زغ ته غوږ ونیوه .

دا څڅوبی د لو یو غروله سروڅخه مخ پر کښته بهیده چیغی ئې وهلې اودپرښو، له گاروسره په جنگ ا خته و میده میده شگی ئې رغړولې اودلوړغره سینه ئې توږله، ژوری ژوری کندی ئې پکښ جوړه ولې اوڅپوئې دغره سنگړی لیونتوره یوله بله سره وهلې .

ایا داڅڅوبی نو کمی خواته رهی و ؟ ؟

په خپله دی ملتفت نه و . . .

له ډ ېری اوږ دې زمانې څخه چه په یاد نه را ځی داڅڅو بی بها ندو ـ

لیونتوره روان و،هیڅ خبر نه دی چه کوم لورته ـ ؟ ؟

آ یاد ده ناره او ځگ د مجهو ل مقصد په مقا بل کښ کمزوری دښمن نه دی ؟

آر زو ! . . . . . .

د زلمی او ږه د آرزو ولوی بارته نه لگېد له او دابار خوراد روندور ته ښکار ېده .

نو دخپل سعادت په لټون پسی ئې دانیمگړې دنیا ټوله و پلټله . . . .

په زرو وارولمرو ختی ولویدی ـ روځی په شپوالیشی شوې .

یوه کال په بل پسی تگ کاوه ـ

زلمی دمځکی پر سر گر زېده، په سوو کلی ئې و غوښته څو په پای کې یو بذگرو لیدچه له خپله سخته کاره ستړی شوی اوپه درانه خوب بیده و ـ

ددې بینوا کو ډلی یوې ناپای تیارې په غېږ کښ نیولې وه... لکه هدیره چپه چپائی وه داسی چپه چپا ئی چه بیره ئې زیږه وله . . . .

داډول چپتیا چه سړی به په خورامشکله دسپی غپاارو ېدله.

زلمی ناری کړه :ـ «اې سعادته ! ته چېری ئې؟»

هیڅ جواب ئې وانه ورېد .

د یوې نژدې کوډلۍ وره ته ورغی هلته ئې له ډیره اضطرابه زړه وریږد ېدی ـ څه گړی ورو سته ئې د و ره وها خواته ژړااو دنا امیدۍ «آه» واو رېدله ـ

ښائی چه دانو سعادت وی چه په دې ناو ختی ئې دیوه بینوا په تو ره کو ډلې کی ځای نیولی دی ـ

له دې ځایه زلمی په ډېرو غمو بار ولاړ ، ترسیندو غدیرو اولویو درو تېرشو ، څوویوه لوړ غره ته وخوت هلته یوه شپون غیلی پووې پروښو باندی نوی شبنم ځلېدی د شپون کیڅۍ په شاپر یوه گاره ناست و ، دروی (نل) ئې ږغاوه ،او دخیال په عالم کښ ئې و یوې شین وبری فضاته کاته ، د د ه له دروی ښې ښې لطیفی نغمې و تلې دانغمی لکه دپیغلی د خوبه ډ کی ستر گی او یا لکه دلمر لمړۍ وړانگې داسی دلنوازی وې ، چه له سپین غبا ر ه سره وغروته تلې ـ . . .

هم په دې شان سو که سو که پر و ښو پرغو نډو پر ځنگلو خپر ېدې ـ

غیلو دشپانه پر سرودښه غوږنیولی و . . . .

ماته ووایه چه ته څه سروزبولې ؟

له څه ؟ ایا هواله کوم شی څخه سر وزبولی .

زه سروز کوم ځکه چه بی موسیقی نه شم پاته کیدلا ی . . .

داډېر حزین دی، زه دهغوشیانو سروزبولم چه وجود نه لری .

اې شپانه ! سعادت پېژنې ؟

. . . . سعادت ؟

زه هیڅکله په دې غرو کښ د سعادت سره مخامخ شوی نه یم .

د لته یو ا زی زه یم ـ ز ما پسو نه ، دواوری او گر زو څپر کی . . . .

سعادت د ځنگله پېری نه دی چه زه ئی و پېژنم .

خلق وا ئی هلته لېر ی لېر ی آیا تاسی لید لا ی شی چه ښکلی ښاردی . ښائی چه سعادت به هلته هستو گه لری . . .

نه پوهېږم . . . زه تر اوسه هیڅکله هغه ځای ته نه یم ورغلی .

دزلمی اشتیاق لاتر پخوایو په دوه اوله غره څخه مخ پر کښته رهی سو .

دهغه ښکلی ښارو خواته روان دی . په حقیقت کښ

عجیبه‌ښارو ، چه هیڅکله‌ئې ددې ښار ساری ، لیدلی‌نه‌و .

ښې ښې ښکلی، ارتی کوڅې ،دسودا ګرودو کانونه، نندارتو نونه ، باغو نه او مانۍ چه داتو له په یوه خړه رڼا کښې ډوب وه ،

برم اودولت هر ځای ځلیدی .

زلمی له یوې کوڅې څخه تېر،وبلی کوڅې‌ته‌ورسید. دیوه بډای دوره له څنګه دبې وزلی فقیر زوی ولاړو چه له یخنۍ څخه رېږ دېدی او په زهیر زړه ،په غمګینه لهجه ئې خیرات غوښت . . .

زلمی پرخپله لارتی ، نا بیره ودرېدی چه دپنجرو ترسو ریودتیاتر ننداره وکی .

دهغه ځای اروېدونکو دیوه زلمی بازیګر پر لوبو باندی په‌خوراز‌ورچکچکی وکړې ، اودهغه ستاینه‌ئې کوله.

په ډېری شیرینۍ ئې سر کښته کی چه تابه ویل‌دده په تبسم کی‌سعادت ځلېږی..امایوه‌لحظه وروسته دابازیګر دکالو اغوستلو کوټې ته ولاړ اوپر صندلۍ باندی‌ستړی ستومانه وغځېد مأیوسانه ئې لاسونه سره مښل، دغم‌لړلی په توګه ئې ژړل .

زلمی‌دالوی ښار پرېښود ، هیڅ‌ئې‌ترشاپسی‌ونه کاته

دبې وزلی‌فقیرد کوچنی‌زوی سووبلغا کو اودبازیګر دویرژړادازلمی په خوراتلو ارپرمخ ځغلا وه .

ترډېره پوری دمځکی پرسرلالها نده ګرزیده په پای کی دغره ویوه غارته راورسېدی چه یوسپین زیری سړی له خلقو لیری وخدای ته نژدې ژوندون کاوه .

هغه وخت چه ددې پوه سړی په حضور مشرف شو نوپه آرامۍ ئې پوښتنه ځنی وکړه :

«اې سپین زیری !ایاته خبرئې‌چه سعادت چېری‌دی ؟ »

سپین‌زیری چه‌په خپلو کاغذ وکښې‌پټ‌ؤ اوخپل‌تېر ذکاوت ئې پلاته ، ښه ګړی‌ئې دزلمی ددې سوال‌ځواب ورنه کړ یوڅه ګړی وروسته‌ئې خپل‌ځړولی سر راپورته کی‌په خورا حیرت سره‌ئې وزلمی‌ته وکاته ، په‌تریو تندی‌ئې یوتریخ تبسم ورښکاره کی - !

ایا ده نودتیری ځوانۍ فکر واهه ؟ ؟

دې‌پوه سپین‌زیری په‌یوه تردیدآمیزه لهجه پوښتنه وکړه :-

«ایا خپل ځانته سعادت لټوې ؟ ؟»

تردې پوښتنی وروسته بیاپه‌فکر کښې ډوب شو . . .

هغه‌وخت‌چه‌بیاځې‌سر راپورته کی په‌خورافهر ئې‌وویل:-

«داخوشی بې‌هودګی ده !. . . سعادت‌نشته .. ...

تو له وهم اوخیال دی !»

زلمی آه وئیستله ! «نوژوندون‌څه پکاردی؟؟»

«ولی دادونه غمونه پر ځان‌تېر کړم ؟؟»

«دازما تو له‌سفرونه‌هیڅ . . . ؟ ؟»

دسپین زیری زړه یوڅه نرم شو پردې بوالهوس‌او خیال پرست زلمی‌ئې زړه وسو :

«مه ژاړه ! داهنه لارده چه‌تې لټوې ! ځه !»

«تر اوسه لازلمی یې ! ځه !»

«تراوسه لاهیڅوك ندی را ګرزېدلی . . . . .»

«فرضاً که راوګرزې هم سعادت خوبه دځانه سره راوړې !»

زلمی پرلاری روان‌و - په‌سفر کښې ئې هیڅ ستړیا نه درلوده ځکه چه په‌روح کښې‌ئې یوامید پیدا شوی و ، هره‌روځ به‌په خپلی آرزو هوسېده-

ډېری لوړی ژوری ئې ولټولې . . . .

دده شاوخوا تیزی خړی غونډۍ دلمر په آخرینو شغلو کښې چه غروب‌ئې کاوه ځلېدلې - . . .

مرګ‌پرډېرلوړ اوهسك ځای الوتنه کول اوهوائې په خپله ساه وهله - .

دلته هیڅ شی له ژوندونه اوزلمیتوبه خبری نه کولې هرشی پته خوله اوشوم ښکارېده ، تابه ویل چه په خورا سخته نفرینه جزا اخته‌دی - ،

دزلمی په‌لارکښې لوی‌ژور کنډو پیداشو ؛ دی خو قدمه ترشا ولاړ ، په خورا حیرت کی ډوب . . . . . ډېر وارخطا . . . .

دغره کنډو دلوړی‌څخه دمځکی وخواته ژورتللی‌ؤ دادېر ارت نه و ، امکان ئې درلود چه‌په لږ زیار زلمی له‌یوې ژۍ څخه وبلی ژۍ‌ته غورځېدلی وای . . .

دکنډو له پایه یوه شنه لوخړه وتله ؛ دآبشار ناري اوزغ به‌ترمځکه لاندی په‌ډېرو انعکاسو کښې و تغښتل شو اوهوابه‌ئې په‌ډېری بېری سره ترخپل واك لاندی کړه .

هرچا اروېدلای شوه چه‌هغه دردمن عناصر دتیارې په مخ پوټی کښې په‌څه جوش اوخروش لوبی اومسخرې کولې - ؛

ددې شیانو ږوږ زلمی ډېر په‌بېره کی واچاوه ....

وهغه مقابل‌لورته - مخامخ پریوه سپېره گاره‌باندی دخاشو په کوډلۍ کښې یوه ښکلې «ښاپېرۍ» پرته وه چه‌پرخپلو څنگلوئې تکیه کړی وه -

طلائی وېښتان ئې دمازدیگر دژړی لمر په‌وړانگو ځلېدل - .

زلمی ولیدله ، څنگه‌ئې ترشفاف پوست لاندی په مرمری پیکر کښې وینی هرلورته تلې ! - سینه‌ئې په یوه څپه ناکه نظم سره پورته کښته کېده؛ دنیم کښو سترگو څخه‌ئې سحر آمیزه کاته وتل -

زلمی پرخپل‌ځای‌ودرېده، اوخپل لاسونه‌ئې په‌تضرع اوزاریو سره ددې وخواته غځولی وو .

دادستی وپوهېدله ، ولی‌بلبل نغمې شروع کړې ؟

دغره دآبشارو پرکومه خوا تلوار و ؟

داسراره ډکی زړی ونی څله په‌پټه خوله وې ؟

دشپانه دنی ږغ چېری تی ؟

داټو له‌ددې «ښاپېرۍ» سلامۍ ته راتله ! !

ددې «ښاپېرۍ» ترشا مرگ‌پټو ، چه خپل‌غاښونه ئې تېره کول - اوتېره چاړه ورڅخه وه -

دامر آخرینو شغلوپردې چړې انعکاس اچولی و -

«ښاپېرۍ» له‌هغه ځایه‌په خپلو لاسو ودې زلمی ته اشاره وکړه، پخپلو سترگوئی وده‌ته ترغیب ورکی او دسینې په رېز دئې دی‌مد هو شه‌کی - :

مرگ‌چاړه په‌لاس کی‌نیولې وه، وئې خندل .....

او چاړه ئې ښه وځلوله .

«..... اې‌بېعقله .. !ستاکم ځای‌ته تلواردی ؟؟»

زلمی‌چه‌له ډېری مودې‌څخه دسعادت‌په‌لټون کی‌اذیت موندلی و ، ددې «ښا پېرۍ» دفشنگۍ له‌لامله په دام کی ولوېد - .

دغره کنډ وئې په خپلو سترگو اندازه کی وغور ځېد . . . . . .

اما - نه‌د «ښاپېرۍ» په غېږ کی .... بلکه دمرگ د چړې پرڅوکه !

نوتر هغه وروسته دا ځای خلقو (دسعادت کنډو) وباله ! ! !

❀ ❀ ❀

دبندی عسکرلیك ومحبوبی ته

دخارجی مجلاتو څخه اخیستنه :

ښاغلی سید بهاءالحق خان «هاشمی»

گرانی محبوبې !

په هغه روځ چه د جگړې اوزپه ا رو پا کښې ولگېد مااونوروگردو دهواد ځوانانوبله ړومیۍ وظیفه بې له دېنه نه در لو د ه چه د همت لمن ټینگه په ملا وتړو او د هواد دخوندیتوب دپاره هاند او زیارو کاږو ....

دجگړې دپای تاریخ به شهادت ورکی‌چه ما اونورو ملگروددې وظیفی په پای رسولو کښ‌څه کمی ندی کړی او که موونشو کولای چه د مقصودمحبوبه په غېږ کښې ونیسو نودهغه وبال زموږ په غاړه باندی نه دی .

❀ ❀ ❀

په‌یاد به دی وی په هغه روځ چه زه په خپلوعسکری جامو کښې د جگړې دنورو شیانو سره د اوسپنی دلاری خواته زغلېدم اوته می هلته ددرېدو په کافه کښې ولیدې چه اوښکی‌دی‌تویولې اوزماله تگ څخه دجگړې وډگرته خپه وې منگرماستاپه هغواوښکوچه د مرغلروپه څېرستاپه ښا یسته باړخوگانو زغلېدلې رحم ونکی اوروسته له یوې زړه سوځوونکی وداع څخه‌یوله بله سره جلا شوو .

جدا ئی را غله سره بېل شو و

جلاجلا به سره ځوویشتلی زړونه

.... په هغه روځو کښې می فکر کاوه چه د گران هواد په‌لار کښې به قربانېږم او لوی لوی تاریخی نومونه به‌گټم اویاداچه بریالی به د جگړې د ډگرڅخه‌را وگرزم په داسی وخت کښې چه گرده دنیا زماپه کام باندی ده او د وطن دښمن می د پښو څخه غور زولی دی .

❀ ❀ ❀

لوی څښتن غوښته چه یوهم له دی دوو فکروڅخه

عملی نشی او هغه شی چه با الکل ز ما فکر ته نه را ته واقع شی .

هو ، هرومرو زمو نږ لښکروما تی وکړه او زه دد ښمن د عسکر و په لاس کښ بندی شوم دایوه حادثه وه چه ماددغی فکر نه کاوه بلکه خاطره ئې هم زما په زړه کښ نه ګرزیده ،.... هغه شی چه بایدوشی کیږی .

اوڅوك هم هغه طاقت اوقدرت نلری چه دحوادثو دسیل مخه راونیسی ،خوسره له دې زه نه شم کولای چه د خپل تأثیر اودخپګان دویلو څخه ځان وژغورم .

❀ ❀ ❀

په هرحال هغه شی چه ماته دپردیسی په وخت کښ دزړه سود،اوډاډرا کوی دادی چه ما په خپله وظیفه کښ سستی نده کړې او دخپل طاقت او قدرت نه می زیات هاند کړی دی . . .

که چیری ما په خپله ټا کلې وظیفه کښ لږ څه غوندی سستی کړی وای اوس به له ډیره غمه مړوای اودومری طاقت می هم نه درلود چه یوه ګړی په دنیا کښ ژوندون وکم.

ژوند له شرفه سره خوند کی
چه شرف نه وی مرګ بهتر دی له ژوندونه

دا خو په دنیا کښ ثابته او مسلمه ده چه د عشق اومحبت قدرت په هر قدرت اوطاقت باندی زیاتوالی کوی، ددنیا ډیری ناوړی نشی کولای چه دمحبت داستوګنی ځای له زړه څخه ورك کی اوپه هغه باندی زیاتوالی پیدا کی.

ممکنه ده داتصور به کوې چه بد بخت عاشق چه اوس ددښمنو په لاس کښ بندی دی نوګرده شیان به ئې هیر کړی وی دمهر اومحبت دتړون اود وفانښی به په کښ پاتی نه وی او دخپل ځان په ویر به بخت وی، که چیری رشتیا دارنګه فکرونه کوې نوخطا وتلی ئې او (.....) دی لاتر اوسه نه دی پیژندلی .

ز ما د زړه پر تخته ښکلې -
هیر به می نه شې که می خاوری شی هډو نه

ایا وروسته تر هغه چه عشق په خپلی بر ېښنا زمو نږ دزړونو کوډلی روښانه کړې اوزمونږ تر منیځ ئې یوه علاقه ایجاد کړه هغه به ټوله یووار هیروو ؟ ؟

❀ ❀ ❀

منګر هغه ښه اومحبت دیوې رو ځی مېلمه وو؟چه یوه شپه ئې مونږ سره تر سحاره تېره کړه؟اوخپله لارئې په مخکښ ونیوله ؟ یه - !

غم دی کمیس نه دی چه زوړ سی
زماد عمر سره سم دی ستا غمونه

هغه مینی اومحبتو نه چه ناڅاپه پیدا کېږی او ناڅاپه ترمینځ ځې، دوستی اومینی نه دی بلکه یو بی اساسه شی دی چه هغه ته ئې دوستی ویلی ده اوددغی پاکی عاطفې نوم ئې بد کړیدی .

❀ ❀ ❀

ګرانی محبوبی ! باور به وکی چه دژوند ون په سختو د قیقو کښ می ته نه ئې هیره کړی او ستا خوږه بشره او ګړنګه ونه می تل په ستر ګو کښ ګرزی .

ستا به هیر که دی په یاد یم
زه چه بانهو پر بانهوږدم تا یادومه

❀ ❀ ❀

هغه د اسارت ژوندله پاره دهواد دو ګړو چه وږدې دوری ئې په خپلوا کی کښ تیری کړی وی ډیر بدخوند اونا ګوار وی ، منګر زه داټولی بدخوندی اوسختیاوی ستا به خاطر زغمم اوددغی ملاماتوونکی پنډ لاندی خپله ملانه ښکته کوم ځکه چه امیدلرم چه ژربه خاوند دامزلونه و پای ته ورسوی اوددغی تریخ ژوند په عوض کښ به خاوند دهوسائی د ژوند دوره راولی .

څه دی چه اوس سره جلا یو
که ژوند باقی وی بیا به وشی دیدنونه

دنیا ډیری لوړی ژوری لری اویوازی هغه وګړی په خپلو مقاصد کامیابېد لای شی چه صبوروی او هر راز مصائب ز غملای شی .

د صبر ډال په مخکښ کیږ ده
چه دد ښمن خنجر پی دړی وړی شینه

سره له دې به ولی ناامیدیم اوځان ته به په خپله ډاډنه ور کوم ؟ چه ژربه داسارت له بنده خلاص اوستاغېږی ته به در ورسېږم :

❀ ❀ ❀

وائی چه یوه ټولګی به ډیر ژردبند څخه خلاص کړی شی که چیری داواقعه رښتیاوی اوزه هم دهغو بندیانو دډلی څخه اوسم چه له بند څخه خلاصیږی نولمړی ځلی چه زه خپلی

سترگی دچاپرمخ پرانیزم هغه‌به‌ستاښکلی‌بشره وی چه‌زما دتولو بدخوندیو اودسختیا وی‌تلافی به‌او کی .

یو واری غاړی غجی راشه
که‌دسرسام‌په‌تبه‌پروت‌یم‌روغ‌به‌شمه

ډیر ډاریزم چه‌ستاد گلابی بشري ددیدن په‌وخت کښ‌می‌به‌روح له‌تن څخه جلاشی اویاداچه‌ستاد پښتنو په‌مقابل کښ به‌می ژبه بنده پاتی شی اوهغه ټولی قصي چه په ما تیری‌شویدی اوستا دپاره می دزړه په صندوق کښ خوندی اوساتلی دی‌هماغسي پټی‌به‌پاتی شی او ارمانجن به گورته ښکته شوم .

هغه‌به خوك‌وی‌چه په‌داسی وخت کښ‌چه یومین‌له‌یوه اوزده پیلتون وروسته دخپلي محبوبي په وصال ورسیږی او خپل احساسات‌اومعنویات‌به‌ونه‌بایلی اوپه هماغه خپل‌طبیعی حال‌او تنگوالی سره‌دمحبوبی په‌حضور کښ خبري و کی؟

زما جانان ملك الموت دی
په‌هر زمان‌می‌ویروی‌چه‌روح دی‌وړمه

گمان نه کوم‌چه‌په‌دنیا کښ به‌داسی خوك موجودوی او که موجودوی نو هر ومرو به‌ددغی عاطفي او احساساتو څخه محروم وی .

په‌پای کښ‌ستادښه‌حضوره څخه‌هیله کوم‌چه تر خوپوړی چه‌زه په‌زندان کښ‌یم‌اوله بندڅخه خلاص شوی‌نیم له‌خپله احواله څخه مابی خبره پری نزدی اوتل‌په‌خپلو ښایسته گوتو خطونو راته لیکه لکه‌چه‌یوه‌ښه دداد لاره زمادرنځ ویستونکی خاطردپاره ستا کاغذونه‌دی اوبس .

یوه هیله لرم

ښاغلو پښتنو فضلاؤ !

زموږ ژبه ترهرڅه دمخه‌د (ادبی وحدت) وتینگولواویاپه بل‌عبارت ولاس ر اوستلو ته‌اړتیا لری .
که څه‌هم پښتو خوپخوانی یوزوړادبی وحدت لری، مگرسره له‌دې ممکنه ده‌چه دزمانی‌د آفاتوڅپوبه دې وحدت‌ته څه تغیر پیښ کړی وی اویابه ئې کوم‌اجزا لحینی وړی‌وی نوستا سی‌وظیفه ده‌چه خپل(ادبی وحدت) بیرته تکمیل او تینگ کی .

دا موضوع زه‌دطرحه په‌طورستاسی حضورته وړاندی کوم هیله لرم چه‌ددې‌طرحی په‌شاو خوا کښ خپلی‌نظریې ښکاره کی ، او دا معلومه سی چه موږبه په څه صورت‌او کومه لار خپل‌زوړ ادبی وحدت ولاس ته راولو گوندی وی چه‌له دې‌منځه یوښه حقیقت وځلیږی .

داهم وایم چه‌مضا مین به‌لمبر واره نشرېږی یعنی‌هر مضمون چه‌دمخه راور سیدی هغه‌به دمخه او و ر و سته به وروسته خپر ېږی په ډ ېر احترام (بینوا)

تاریخی برخه

شفاهی ادبیات

ښاغلی احمدعلی خان « کهزاد »

معمولاً داعقیده ده ، هغه وخت چه آریانان په باختر کی میشتوه یعنی ترمیلاد ۲زره دمخه پهپخوا زمانو کی چه ددوی دمهاجرت آغاز دهندوکش د غرب او جنوب په شاو خوا کښو ، نودوی لا په سرود و یلواخته وه ؛.

دمخه موویل چه ددوی سرود دمذهبی احساساتو څخه زېږېدلی ، اودعناصر په ستاینه کښ و ه ، او باختر دآریائی عناصرو دستاینی لمړی ځای د ی .

شك نسته چه آریانانو به دشعرویلو لمړی زمزمه اوسرود په هم دغه ځای کی شروع کړی وی .

ایاله‌دې‌سرودو څخه چه دپخوانی افغانستان دشفاهی ادبیاتولمړی نمونه ده په لاس کی څه سته ؟

دایوسوال دی چه سمدستی خومتأسفانه په نفی سره ځواب ورکوو ، مگر که څه هم په موجوده معلوماتو کی ددې ادبیاتو نمونه نه لیدل کېږی ، لیکن پهدې باب کی چه یوهورځ‌ئې وجود درلود اویا خوراډېروه هیڅ شبهه نسته ، ځکه چه هغه تفصیل چهوروسته بهراسی ، د(ویدی) یوه سلسله سرودونه چه موجود دی صریح شهادت په لاس کی سته ، چه دقدیمه اشعارو وجودته اشاره کوی.

نودپخوانی افغانستان شفاهی ادبیات یاد آریائی سرودو مجموعه چه ددې سرود و،ویل ۲زره کاله دمخه ترمیلاد په پخوا زمانه کی لهباختره اودا کسوس‌دسیندله غاړو څخه شروع او دپنجاب په خاوره کی او داندوس اوجیلم‌تر سواحلو پوری د (۶۰۰ق،م)په شاو خوا کی وپای ته رسېږی ، پردووبرخوویشل سوی دی، چه یوه برخه ئی پخوانی اوورك سرود و نه دی یعنی هغه چه مادتاً له منځه تللی دی مگر شواهد ئې په لاس کی سته ، چه په یووخت کی ددوی ووجودته اشارې کوی او بله برخه ئی ښکاره سرودونه دی چه شفاهی ژوند ئې وپای ته رسولی او لیکل شوی دی چه ترننی ورځی پوری باقی پاته دی .

پخوانی اوورك سرودونه :

دآریائی دښکاره سرودومجموعه چه د«وید» څلور کتابونه دی چه پخوانی کتاب ئې د« دسته » په نامه یاد« ریگ وید» په کتاب یاد ېږی ، عبارت له هغو منظومو آثارو څخهدی چهدآریائی مهاجرت وروسته ئې سرود دهندوکوه په جنوب خوا کی شروع سوی دی ورو ورو د (پنجاب) دهفت دریا په علاقه کښ خپور شوی اووپای ته رسیدلی دی .

لکه ورو سته چه به مفصل ذکر سی هغه محیط چه داسرودونه یاښکاره سرودونه پکښ ویل شوی دی دکابیسا څخهنیولې ترپنجابهپوری دامځکه پهغېږ کی‌نیسی.

نوهم داسبب‌دی چه دغرو او کورو اسمونه اودهغو قبیلې نومونه چه دافغانستان په جنوب او جنوب شرقی او لمرختیز خوا کی میشت دی پهدې‌سرودو کښ لیدل کېږی.

ددې سرودو مجموعې ته باید « ښکاره سرودونه » وویل سی .

ځکه د هر کیفیت په مرسته چه وه خو ، دیوې خولې‌څخه وبلی‌خولې ته اوله یوه غوږه وبل غوږته دلیکلوترعصره رارسیدلی دی او نن د مطالعې ومیدان ته راوتلی دی .

لکه د مخه چه مو اشاره و کړه ار یائی سرود ونه په دې منظوم آ ثارو پوری تړلی او منحصر نه دی بلکه دادیوادبی ثقافت دلوئی دورې یو یادگار اونماینده بلل کېږی چه پخوانی شواهدئې له بده مرغه له منځه تللی دی او وجودئې ددې اشعاروله اشاروخخه ښه خرگندېږی . که خه هم زموږله موجوده معلوماتوخخه دپخوانیوورکو سرودوښکارکول غیرممکن دی ، خوسره له دې د دوی تذکارد «ویدی» ادبیاتو د تاریخی مراتبوله نقطهٔ نظره خخه ډېر مهم دی چه په آریانا کی ئې تاریخی خه خه مراتب طی کړی دی ځکه چه هغه مخکه چه د اریائی ډېر پخوانی سرودونه یاپه بل‌عبارت هغه لمړی ورك سرودونه پکښې ویلی‌شوی دی دننني‌افغانستان‌خاوره یاقدیم آریانا دی ـ دلته به‌یوخه دقیق شووبه وایو چه ښکاره سرودونه د هندوکوه په جنوب کی د کاپیسا او پنجاب په منځ کښې ویلی‌شوی دی ، ورك‌یالمړی سرودونه د آریائی په‌پخوانی منزل کښې یعنی دهندوکوه د شمال په صفحو کی په باختر کښې ومنځ ته راغلی دی که د «ریگ وید» د سرودو متن په ژوره کتنه وکتل سی ډېر ادبی مراحل به پکښې ولید ل سی .

په دې صورت کی چه یوازې د ریگ وید متن مختلفی دورې ښکاره کی ، نوطبیعی ده چه د مخه ترهغه هم ضرور نوری دورې وې او د ادبی ذوق داسی پالنه کېده چه د «ویدی» د سرودو د خرگندولو د پاره‌ئې زمینه مستعده کړې ده .

« کومار دوت » په خپل کتاب کی چه نوم ئې « هند آریائی کول » The A ryanisation of india دی په (٥٥ـ٥٤) مخ کی لیکی چه د « ریگ ودا » دمتن لوی اختلافات غیر له دې خخه چه دور کو ادبی سرودو دیوی ارتی دورې کوچینی یادگار باله کېږی بل‌شی‌نه دی اوهغه واضح تغیرات چه دویدی په دوره کی په خپله د سرودو په ژبه کی لیدل کېږی دابښکاره کوی چه د «ویدی» تردورې پخواحتماً ډېرنورسرودونه هم وه چه متأسفانه ورك او موږ ته نه دی رارسېدلی لکه چه د « ریگ وید » متن هم په د ی باب کی شاهد دی او داجملې چه « پخوانی پوهان » او « پخوانی سرو دونه چه په نوی جامه کی را وتلی دی » او « هغه سرودونه چه په پخوازمانه‌کی ترکیب شوی دی » ددی ټولوخخه خرگندېږی چه ادبی‌دوره له دغه وخته خخه چه دویدی پخوانی ادبیات ومیدان ته راوتلی دی نه ده شروع شوی بلکه تردې دورې پخواهم بله لودوره وه ، چه د ویدی د دورې آ ثار به‌ئې نمونه یا یا د گارو شمېر ل سی .

د « پخوانی پوهان » جمله که‌خه‌هم لنډه او خلصه‌ده ، مگر خرگند مفهوم‌لری اوواضح وائی چه داپوهان‌دخپل وخت په متداوله پوهنه کښې چه مذهبی قوانین ، دقربانی مراسم ، داشعارو سرود ، داولاد او کورنی دپالنی اصول اودحیواناتو روزنه ، اودمحاربې فن اونور . . . . د ی دویدی تر عصر دمخه لا د آریانانو په منځ کښې موجود وه .

له د ې بلی جملې خخه چه : « پخوانی سرودونه په نوی جامو کښې راوتلی دی» دامطلب راوزی چه‌پخوانی سرودونه د «ریگ‌وید» دمنظومو دترکیب په‌عصر کښې لا کاملاً له خاطرو خخه هېرشوی اووتلی‌نه‌وه اودخلقو په خافظو کی‌ئې په کافی اندازه‌وجود دراودچه‌د(ویدی) دادبی عصر دسبك تغیراتو بعضی له‌هغو خخه په‌نوې جامه کښې راوستلی دی . (نوریا)

شعر او د عربو

ښځې

د خارجي مجلا تو څخه
د یار محمد خان «نظامي» ترجمه

دزرګونو کالو راهیسې دعربو ملك دځمکې په مخ موجود دی ، اودعربو تمدن هم یو نوی او نا اشنا شی ندی ، مګر سره ددې دادډېر تعجب خبره ده چه په سوو کلو پخوا ښځو چه ددوی دتمدن په سمسور باغ کښې ګې بیخی هیڅ حق نه درلود ، اونه د دوی دتعلیمی او اخلاقی ارتقاء دپاره کوم یوباقاعده نظام موجودو ، په دغسی وخت کښې هم په شعر اوشاعری کښې چه په حقیقت کښې دبشر فطری حق دی ډېری ښې ښې شاعرانی ښځې تیرې شوېدی چه انسان اریان ورته پاته کیږی .

شاعری داحساساتو اوجذباتو سره ډېر نزدې تعلقات لری ځکه چه دشاعر دلفظ معنی خو « دشعور خاوند » کېدای سی اوشعور په اصل کښې احساس ته ویل کیږی نو شاعر هغه چاته ویلای شو چه احساس ګې قوی وی اوپه دې اعتبار باید ښځې ترنارینه زیاتی شاعرانی وی .

ځکه چه د دوی جذبات او احساسات فطرتاً ډېر لطیف او نازك اوډېر زیات اوزرمتأثر کیدونکی دی ، موږته دخپلو روزانه تجاربو څخه دا خبره ثابته شویده چه که دچا دیو مصیبت اوبد حالی بیان په یو مجلس اویا یو کور کښې وشی نو لکه څومره چه په دې بیان دښځو طبقه متاثره کیږی دنارینه و طبقه په هغه اندازه تر اثر لاندی نه راځی ، دامعلومه خبره ده چه ددوست په بیلتون اوخپلو خپلوانو اولادونو وغبره او جدائی دکور اومال اودولت اونوره بربادی په هرچا باندې اثر کوی ، لیکن ښځې په دې راز پېښو اکثر بیخوده کیږی اودلیونتوب مرتبې ته رسیږی ، همدغه شان دروانو اوبو اوښو منظرو اوشنوباغونو اوسمسورو ګلونو اوخوشبویه وږمواودنورو طبیعی منظرو په لیدلو هرڅوك متأثر کیږی او هر چاته خوند اومزه ورکوی .

امامهم داشیان پر ښځودوجد کیفیت راولی اودډېری خوشحالی څخه ګې یومخصوص حالت ته یاسی داهم امکان لری چه ښځې دځنی عللو اوموجباتو په اثر خپلو احساساتو ته دالفاظو مخصوص کالی او جامې به وانه غوستولی شی ، لیکن دامنل شوی خبره ده چه ښځې په تأثر اوانفعال کښې دنارینه و څخه ډېری زیاتی دی اوهم دا شیان دشعر او شاعری ددنیا ډومبی اساسونه دی ، هم داسبب دی چه ښځودشعر اوشاعری په میدان کښې ډېر ځله مقابلی کړیدی اودډېر وسرو څخه ګې په دې فن کښې میدان ګټلی دی او لوړلوړ انعامونه ګې اخستی دی .

دعربی ژبې شاعرانو په ډله کښې د(خنسأ) نوم یو خاص امتیاز اوخصوصیت لری چه دا یوه ښځه ده همدغه شان (لیلی الاخیلیة) یوه لویه نومیالی شاعره تیره شویده او دخپل عصر لویو لویو شاعرانو څخه ګې میدانونه ګټلی دی .

په دنیا کښې به داراز ممالك ډېر لږوی چه په هغو کښې په هره دوره اوزمانه کښې کومه یوه شاعره ښځه نوی تیره شوی مګر دعربو مملکت په دې کار کښې یو فوق العاده خصوصیت درلود شاعری او انشاپردازی ددوی په ښځه کښې اخښل شوی وه . قدرت دخپلو جذباتو په اظهار کښې هغوی ته داراز اقتدار ورکړی و چه دهغې پېړۍ مهذبو قومو سیالی نشوه ورسره کولی ، اوددغې منطقې نر ، ښځې ، لوی ، واړه ، ځوانان او زاړه هریو دهومرا وشکسپیر شان اوشوکت درلود «دسبوس» په جنګ کې د«امامه بنت کلیب» عمر د ۱۲ کلو څخه زیات نه و ، لیکن هر کله چه ددې پلار ـ «کلیب» جساس اوعمروبن حارث په تګی مرکړنو دا په ژړا ژړا دخپل تره «مهلهل» کورته ورغله په دغه وخت کښې ددې تره د شرابو په نشه کښې مست پروت و اوبالکل دخپلی مستی په دریاب کښې ډوب اوددنیا

څخه بې خبره و ، دا دخپل تره په دې حالت خپه شوه او فی الحال ئې دخپل تره په ملامتولو کښې شعرونه وویل چه دهغو ډېرو شعرونو څخه یوڅو شعر ونه دنمونې او دې دپاره لیکو چه دهغو څخه لوستونکو ته دعربو د فطری شاعرانه ذوق پوره څرګند شی .

اتلهو بالملاهی و الخمور
و لا تدری بعاقبة الامو

ولا تدری بان کلیب اضحی
قتیلا عند جساس الغدور

فوا عجباً لجساس وعمرو
لقد جسر اعلی امر نکیر

ویا و یلالجساس و عمرو
لقد رمیا اخاك بعنقفیر

فبادر نز عن الرمح عنه
فما اصد علینا بالجسور

یعنی ته په خپلو شرابواوعیش بخت ئې اوددنیادپینو څخه بالکل خبرنه ئې ، آیاته په دې خبر نه ئې چه غدار جساس زما پلار کلیب په تګی وژلی دی نو دعمر واو جساس پرحال ډېر تعجب دی ، چه وداسی ناوړه کارته ئې اقدام اوجرئت کړیدی، دعمرو اوجساس پرحال ډېرافسوس دی چه ستاورورئې په عنقفیر (غشی) ویشتلی دی .

نو تلوار کوه چه موږ هم د دوی تر وجود غشی پوری وری وباسو ، اوپرموږ هیڅا داراز جرئت نه دی کړی (۱) .

عمره خشعمیه یوه زړه ښځه وه چه ټول خپل خپلوان او کور کهول ئی مړه شوې وو فقط دوه زامن ئی ژوندی پاته وه چه ددې دژوندون اسره باله کېده ، او هر کله چه دې دهغو دواړو ځوانی مرګو زامنو دمرګ خبرواورویدنو دستی لیونی شوه اویوه مرثیه ئې وویله چه یوڅو بیتونه ئې دادی :

ابی الناس الا ان یقولو هما هما
ولواننا استعطعنا لکان سواهما

بینا عجوز حرم الدهر اهلها
فلیس لها الا الاله سواهما

هما اخوا فی الحرب من لااخاله
اذ اخاف یوماً نبوة فدعاهما

هما یلبسان المجد احسن لبسة
شحیحان مااستطاعا علیه کلاهما

شهابان منا او قدا ثم اخمدا
وکان سناً للمجد لیس ضیاهما

خلق وائی چه دوی (زما زامن) مړه شول ، او که زما په وس وی نوما به ویل چه دابل څوك دی. چه دوی مړه نه دی او دانور دی .

دا دیو داسی بوډی ښځی زامن دی چه زما نې ورته بل څوك پرینښی نه دی اودې دواړو به چه بغیر له دوی نه بیله خدایه بل څوك نه لری .

په جنګ کښې دهغه چامرسته کوله چه څوك به ئې نه درلودل ، او هر کله چه به پرچا باندی سخته راغله نوددوی څخه به ئې مرسته غوښته .

دوې به غوښتل چه دشرافت ښې جامې وا غوندی اوپه دې باب کی به ئې یوپربل باندی به ئې بخل کاوه .

های دادواړه ځماخلانده ستوری وه چه اول دواړه یوځای وځلېدل اوبیا په یووار یوځای پریوتل اوددې دواړو رڼا به دمیلمنو لارتل روښانه کوله (۲) .

د کوم وطن دلویو وړو ښځو ، نرو چه د شعر او شاعری دا کیفیت وی نو فکر په کار دی چه دد غه ملك دپوهو اوځلمو شاعرانو دسحربیانی به څه حال وی؟ دعربو په کوچنیانو او پوونده و قبا ئلو کښې چه دخپلو نازکو تأثر اتو اوعاشقانه جذباتو په سبب ئې خاص شهرت درلود، د« بنوعذره » قبیله وه چه ددې قبیلی دښائست اومینتوب اوعشق اوعاشقی افسانو یوخصوص شهرت حاصل کړی و او ددې شهرت په سبوری کښې په عربو کښې د« حباً عذریا » خصوصه محاوره پیدا شوه چه ترننه پوری د غه مقولې دضرب المثل پرډول استعمالیږی اوپه دنیا کښې کافی شهرت لری، دا قبیله په شاعری کښې هم خصوص امتیاز لری ، یوه ورځ ددې مځکی دوه جانبازه عاشق اومعشوقه « زرعه » او« ظریفه » د خپلو سهیلو سره دخپلی قبیلی دیوه جیوړ په غاړه ګرزیدله چه زرعه بن خالد ښکارته راوتلی و اودغه خواته راغی ، هر کله چه دزرعه سترګی په ظریفه ولګیدلې نوفی الحال بی خوده په ځای پریووت ،

---

(۱) ریاض الادب فی مراثی شواعر العرب جلداول صفحه ٦

(۲) ریاض الادب فی مراثی شواعر العرب جلد اول صفحه ١٤٦

اوظریفه ددې واقعې په لیدلو ډېره متأثره شوه اوفی الحال دخپل عاشق خواته ور روانه شوه اودهغه دهوښ دراوستلو دپاره ئې ډېر زیار او کوښښ وکړ لیکن هر کله چه دی په هیڅ تجویز په هوښ رانغلو نودې ددغه جیوړ څخه په خپلو لاسونو کښ او به راوړلې اود ده د پاسه ونو ستلې په دې کار د دغه عاشق سترګی وغړیدلی چه سترګی ئی وغړولی فی الحالی ئی په خپل جانان سترګی ولګیدلی او زر کښیناست او دا مقوله ئی وویله !

«هل مقتول یدا وهیه قاتله»

آیا په دنیا کښ به داسی نیکبخت او بختور عاشق وی چه معشوقه ئی په خپل لاس ووژنی اوبیائی په خپل لاس غم وخوری ؟ ظریفی هم په خپل زړه د عشق ګوزار خوړلی و ، موسکی شوه او به خندا کښ ئې ورته وویل چه نو بیاته ولی ګله من ئی ؟

زرعه چه دعشق دشرابودنشی نه څه قدرته په خود شو نوفی الحال یی داشعرونه وویل !

خرجت اصید الوحش صادفت قانصاً
من الریم صادتنی سریعاً حبائله
فلما رمانی بالنبال مصارعاً
اقانی وهل میت یدا وهیه قاتله
الا فی سبیل الحب حب قد انقضی
سریعاً ولم یبلغ مراداً یحاوله

یعنی زه خو په دې نیت وتلی وم چه د غر څو او هوسو ښکارو کړم ، لیکن هغلته کښ زه په خپله دیوی سپینی هوسی ښکار شوم ، اوهر کله چه هغی زه په غشی وویشتم اوراوئی غورزولم ، نو بیائی په خپله ځما علاج شروع کړ .

آیا داچیرته شویده چه قاتل د مقتول علاج کړی وی هودمینی اومحبت په لار کښ ډېر مینان وی چه ژرتیر شی او په خپله هغه آرزو کښ کامیاب نشی چه په زړه کښ ئی در لوده (۱) .

هر کله چه ددې دواړو دمین تا به قصی په قبیله کښ خپری شوې نو د ظریفی خپلوانو دزرعه خوار د مرګ اووژلو بناوتړله ، زرعه چه ددې نه خبر شونو هغه وتښتیدلو اودتښتی په وخت کښ ئی د خپل جانان په یاد کښ داڅو بیتونه وویل !

اویوخپل دوست ته ئی ور په یاد کړل چه دا ابیات هغی ته ځما د خوانه واو روه دهغی شعر و نه خلاصه لنډ مطلب دادی .

«چه د عشق یو رنځور د قبیلی د کورونو په خوا اوښا کښ بی دارو او بی درملو مرګانی پروت دی ، خلق د هغه دروغتیا څخه مایوس شویدی اوداوائی چه که ته د هغه پوښتنی ته راغلی نوجوړ به شی نو که له تا څخه هغوی دمهربانی درخواست وکړنو ته د هغی درخواست په منلو کښ بخل ونکړی » .

هر کله چه ظریفی داشعرونه وارویدل نو فی الحال پوه شوه چه زرعه دا ځواب ماته رالیږلی دی ظریفی فی الحال دخپل جانان دفراق په ژړا کښ دابیتونه وویل .

رعی الله من ، هام الفواد بحبه
ومن کدت من شوق الیه اطیر
لئن کثرت بالقلب اترام لوعته
فان الوشاة الحاضرین کثیر
فان لم از ربالجسم خیفته معشر
فللقلب آت نحو کم فیزور

یعنی خدای دی په هغه چارحم وکړی چه ځما زړه دهغه په عشق کښ ناقلاره دی اونږ دی دی چه له ډېره شوقه نه د هغه په لوری والو ځی ، ځما په زړه د مینی اور که هر سومره په ډېر شدت سره بلیږی ، لیکن زه څه وکړم چه چغلی خواره هم لږنه دی ، اګر که دقبیلی د خلقو دبیری زه تاسره په ښکاره کتلی نشم ، لیکن ځما زړه تل غواړی چه هروخت تاڅخه راشی او ستا زیارت وکړی (۲)

(نور بیا)

---

(۱) الدرالمنشور فی طبقات ربات الخدور ص ۲۷۸

(۲) الدر المنشور فی طبقات ربات الخدور ص ۲۷۸

اتل «عبقری»

(۲)

د ښاغلی عزیز الرحمن خان ترجمه

د اتل (عبقری) انواع

اتل (عبقری) ځانته انواع اواقسام لری لکه چه دعبقریت د انواع څخه عبقری قولی ، او ، عبقری فعلی ، هم ، دی ، او بل قسم ئې عبقری فنی او صنعتی او عبقری اخلاقی دی .

قولی عبقری ، هغه چاته ویل کیږی چه هغه د خبرو سره مینه اوعلاقه لری ، اودعبقریت دانوعه ځانته درې شعبی لری چه خطابه ، شعر ، اولیکل دی .

فعلی عبقری هغه چاته ویل کیږی ، چه هغه دلویو اولوړو کارنامو مصدروی ، اوددې قسم خلقو دعبقریت دښکاره کولو میدان په دروشیانو کښ وی .

۱ : علم چه «ډاروین» وغیره ددی میدان پیاوړی سپاره دی

۲ :ـ اکتشاف چه «کلمبس» او : پیری : وغیره ددې میدان پهلوانان دی .

۳ :ـ جنګ : چه اسکندر مقدونی ددې ډلی مشر دی .

٤ : ـ ددنیا سیاست لکه پطر کبیر او بسمارك

عبقری فنی : په دې ډله کښ د صنائع مستظرفه وخاوندان هم شامل دی لکه نقاشی اوحجاری اومو سیقی اومعماری او دمجسمو جوړول وغیره ـ

ددې فن مشهوراونامتو عبقریان «لیونارد» ـ اودافنشی: وغیره دی چه د «جو کوندا» نقاشی اود سفورزا مجسمه او د : میلان : قصر ونه د دوی د لا سو نو نخښی اویاد ګارونه دی ، اوهم دوی هغه مقاصدوته لاسونه اچولی دی چه هغه د بشر دفکر څخه جګ وو ـ .

لیکن خلقی او ذاتی عبقری هغه چاته ویل کیږی چه طبعاً دښو اولوړو اخلاقو اولوړو صفاتو خاوندوی ، اوهم ددې شیانو له لامله د مجد او اعتلا لوړ مقام ته رسیدلی وی ، اوددې لوړ فوق العاده موهبت په سیوری کښ ئې د انسانیت په انجمن کښ د صدارت او لوړتیا چوکۍ اشغال کړی وی لکه حاتم طائی په ورکړو اوسخاوت کښ او سموئل دوعدې په ایفا، اودامریکی « فرنکن» په اخلاقو کښ او حضرت ایوب علیه الصلوات والسلام په صبر کښ عبقریان تیر شوی دی.

ځینی خلق دامریکې خوتنه لوړ بډایان هم دمال غونډولو په وصف کښ عبقریان ګڼی ، ځکه چه دهغوی داخیال دی چه دومره ډیر مال غونډول بی دلوړو صفاتو ممکن نه لری لکه اقتصاد کول اوصبر اوپه کارونو کښ فکر اوتأمل اودفرصت وغیره څخه کار اخیستل اوډیر زیار اوپه اخیستلو اوخرڅولو کښ فکر اودقت کول وغیره . لیکن موږ د سرمایه دارانو څخه یو «اندرارس کارنجی» عبقری ګڼو ـ ځکه دا هغه لوی سړی دی چه په دې نزدی موده کښ ده خپل ټول مال اوثروت ددنیا په قامونو اوښارونو کښ د خیریې مصارفو دپاره وویشلی ، اوعبقری هم هغه چاته ویل کیږی چه خلقوته ئې خیر ورسیږی که د علم اوصنعت دپلوه وی او که دمال او نورشیانو له خوا .

لیکن نور بډایانو چه مالونه غونډ کړی دی اوچاته ئې خیر اوښیګړه نه رسیږی هغه معکوس عبقریان دی ځکه چه د هغوی زیان او زحمت ټول بشریت ته رسیږی او فائده ئې صرف دویته .

د عبقری پیدا کیدل :

داضروری خبره نه ده چه عبقری دی په یو خاص قام او مخصوصه کورنۍ او ځانله تبر، بایو خاص ځای اووطن کښ ښکاره اوپیداشی بلکه عبقری په هره طبقه اوهر ځای کښ پیدا او ښکاره کیږی اوپه ډیر وقامونو اووطنونو کښ د هغه کارنامی اویاد ګارونه باقی اوژوندی پاتی کیږی ـ او کله داسی هم پیښیږی چه په یو قام اویوملت کښ داسی یو عبقری

اویاډیر عبقر یان تیر شی چه زمانه اوپېړی ـ بیادوباره دهغوی مثل اونظیر دنیاته نشی وړاندی کولی لکه سقراط اوافلاطون اوارسطو وغیره چه په یونان کښ پیداشوه اوتراوسه ئې زمانې دنیاته نظیر نه دی ښوولی ـ ارسطو په لمړی معلم مشهور دی اودعقل اول صاحب هم ورته وائی ـ اونن که هر څومره دنوی فلسفې خاوندان دا گمان کوی چه زموږ دهغه دفلسفې آره نړولې ده ، مگر په حقیقت کښ هغوی هم دارسطو دفلسفی دچېنې څخه وبه چښی اودهغه په حکمت چلیږ ی ، اوسره ددې چه خلق داد عوا کوی چه موږ دیونان حکمت باطل کړ لیکن په حقیقت کښ ددوی شرافت صرف هم په دې دی چه دوی دیونان حکمت ته منسو ب دی ، او دا درې لوړ عقول دلوړ عبقریت هغه لوړی او کاملی نمونې د ی چه دعالی صفاتو عالی نخښی لری اولکه دلمر پشان ئې په خپلو وړانگو دعلم دنیا رونا کړې ده اوهم له دغه سببه ددوی نومونه په ټوله دنیا کښ مشهور دی اوددوی آثار په هره ژبه نقل اوترجمه شوی دی ، اوتر کمه چه بشریت دفهم او ادراك اوعلم سره علاقه لری دوی سره به ئې هم لری .

همدارنگه داضروری خبره نه ده چه عبقری به صرف په نارینه و کښ راوزی اوپه خورلڼو کښ به نه پیدا کیږ ی ، عبقری په ښځو کښ هم پیدا کیږ ی مگر ډیری نادری او کمی ، او کله داسی هم کیږی چه دخورلڼو عبقر ی دنارینه و په عبقری پورته اولوړوی « خنسا » عبقریه د ه په شعر اودخپل ورور سره په وفاداری کښ « نیتو کریس » دمصر یوه پخوانۍ ملکه د دولتونو په سیاست کښ عبقریه وه ، اوددې دسیاست قصې په خلقو کښ مشهوری د ی او دفرانسه « ژانددارك » مشهوره عبقریه وه چه په وطن دوستی اودلښکر په سرداری کښ یوه ښځه تیره شوې ده ، او دې ښځی ددې کارونو څخه پخوا شپون توب کاوه اود دې زمانې او عصر په ښځو کښ مادام کو ری فرانسوی چه رادیوم ئې کشف کړی دی عبقریه ده !

په دې ځای کښ موږ دپاره مناسب دی چه په دې خبره اقرار وکړو چه موږ دخپلو خورلڼو دتر بیې خواته بالکل توجه نده کړی اوبالکل مو دهغوی غم ندی خوړلی سره ددې چه دهغوی دژو ندون ښه والی ځموږ د خپل ژوندون ښه والی دی او دهغوی تر قی اوهوسائی ځموږ هوسائی اوترقی ده .

هم داسبب دی چه عبقریت په دې صنف کښ لږوته حاصل شوی دی او که داڅه لږډېر پکښ پیدا شوی دی داهم حسن تصادف د ی .

لیکن سره ددې باید داهم ووایو چه تاریخ دعبقریه ښځو اولویو میرمنو دشرح حاله څخه صرف نظر نه دی کړ ی بلکه د هغوی شرح حال ا و کار نامې تا ر یخ ساتلی دی .

په امریکا او اروپا کښ دتعلیم او تربیې په اثر او دآزادۍ په سیوری کښ لوئی لوئی مېرمنی لیدلی کیږی لکه « یانکهرست » دانگلستان دحقوق طلبو ښځو دډلی مشره کم زیار اوزحمت چه دې ددې خپل مسلك په پیشرفت اودخپل وطن په ترقی کښ کښلی دی باید داعبقریه وبلله شی اودروس « مادام بلادفسکی » چه دې ښځی خپل نیم ژوندون په امریکه اونیم ئې دهندوستان په فقیرانو کښ تیر کړ ی اودبشر په معلوماتو کښ ئې یوحاوی کتاب لیکلی د ی .

او مادام « ادی » دیوی معروفی طریقی مېر من چه دغه طریقه په مسیحی طریقه شهرت لری ، اوپه ولایات متحده و کښ یوملیون خلق ددې په طریقه روان د ی :

پوښتنه گرویږنه

د «تون» تحقیق

پوښتنه :- دپښتو ټولنی څخه هیله‌لرم ، چه‌د «تون» دظرفیت په موضوع کښ تشریحات راکی ، ! وهغه‌اسناد چه ددې توری دظرفیت داثبات دپاره موجود دی راوښیی نور احترام .

(ن ، ق - کابل)

❀ ❀ ❀

جواب :-

په‌ډېره خوښی موږ ستاسی دپوښتنی جواب‌ته‌حاضر یو که څه هم‌په وارو ،وارودپښتو ټولنی له‌خواد «تون» په شاوخوا کښ‌خبری اتری‌شوی اوپه مجله ، اصلاح کښ‌ددې توری دظرفیت داثبات دپاره مقالې لیکلی شوی دی ،- خوسره له‌دې ځینی نوز ورو نه هم‌لکه تاسی‌لا په اشتباه کی وه ، اودتون دظرفیت په‌تردید به ئې وپښتو ټولنی ته ځینی اعتراضات رالیږل - .

نو ددې له امله پښتو ټولنه مجبوره شوه‌چه ددې توری دتحقیق دپاره یومجلس ترتیب کړی چه دتون ظرفیت او نه ظرفیت ښکاره سی-

هغه‌وچه په تېره میاشت دپښتوټولنی په عمومی‌صالون کښ‌یو اوی مجلس چه دپښتو ټولنی اعضاء اودمرکز نور پښتانه فضلا پکښ شامل‌وه ، جوړشو !

دمتعرضینو له‌خوا دالاندینی تنقیدات وړاندی شوه چه موږددوی یویو اعتراض‌سره له‌هغه جوابه چه‌دمدافعینو له‌خوا ورکړی شوی دی په‌لنډ طور ستاسی دپاره‌لیکو ، ممکن‌دی‌چه ستاسی‌قناعت‌به‌هم‌حاصل‌سی اوونوروتشریحاتو ته به اړ نه سی :-

دمجلس مناظره

تنقید :-

۱:- د «تون» دظرفیت په‌باره کښ څه‌څه‌دلائل‌سته؟

جواب :-

د «تون» په‌باب کښ ډېر پاخه پاخه دلیلونه اواسناد سته ، چه موږئې ومجلس‌ته وړاندی کو :

الف :- دپښتنو مشهور متل دی چه وائی :-

«دکږې توری کوږ چړتون وی»

مقصد په چړتون کی دی چه اصل‌ئې چاړه تون یعنی دچړې ځای (غلاف) دی نو په مرور دزمانې اوپه‌تکرار دکلمې چړتون‌شو ، چه‌تون عیناً معناد ظرفیت ورکوی-

دالغت اوس هم ژوندی دی اوپخوا هم ډېر عام وه، لکه زموږ یوپښتون شاعر «تایمنی» دسلطان غیاث‌الدین غوری معاصر چه دهمدغه سلطان په مدح کښ وائی :-

چه توره وکاږی چړتون کی خالی

غلیم‌ئې کله کړی په توره سیالی -

ب: دپښتومشهورلغت «مېږتون» دی ، یعنی ځای دومېږیانوچه‌عیناً په دغه معنا دپښتو په ادبیاتو اومحاورو کښ مستعمل دی بلکه په ځینو محاورو کی لا دمجاز په‌توگه په خپله ومېږی‌ته مېږتون یامېږتانه وائی اودامجاز رواهم دی

لکه په پښتو کی چه وایو «ناوه وبهیده» نو پخپله خو ناوه نه بهیږی او به ئې بهیږی- ودې مجازته په عربی مجاز مرسل وائی رحمان بابا ویلی دی :-

ددنیا هوس په ما باندی حرام دی
دهوسۍ په څېر کړم شپې پر مېږتون (۱)

یوه لنډۍ ده -:

عمر عبث را باندی تېر شو
لکه هوسۍ پر مېږتون شپې تېر ومه

علی خان وائی :-

ډېر داغونه نغړدی گونه زېړه په هجران کښ
گل د پیغمبر په مېږتون و لاړ تنها یم

ج :- د «مړستون» توری چه دقبرستان معناور کوی او په جنوبی کی مستعمل دی، داتوری په اصل کی «مړه تون» دی یعنی دمړو ځای (ه) په (سین) الیشه سوه مړستون شو-

د (ه) او (س) الیشېده روادی ، لکه «مېلمه» یعنی مهمان نو دقواعدو سره سم باید مهمانی «میلمه تیا» سی دمیلمه (ه) په (س) الیشه سوه «میلمستیا» ځینی جوړه شوه -

د :- د «مټتون» کلمه ،مټ خو په پښتو کی «بازوته» وائی او پښتانه په اکثرو ځاپو کښ دقوت نسبت ومټه ته کوی.

مثلاً : دتوریالی دمټه دپېچلو سړی نسته یانور-

نو په جنوبی کښ مټتون دزور ځای ته وائی چه دلته تون بیا دظرفیت معنا ښندی -

تنقید :-

۲:- دامثالونه خودرست دی ، مگر موږ داشیان باید دفیلولوژی (فقه اللغه) په تله کښ وتلو چه هلته څنگه راځی مثلاً : موږ ویلای شو چه مېږتون په اصل کی «مېږی گډون» دی یعنی هغه ځای چه مېږیان سره گډېږی ، په قرار دفیلولوژی دقواعدو چه حروف سره تخفیف او تبدیل شوه «مېږتون» شو . چه (ت) د (د) څخه عوض ده ، اصلی نه ده - دوهم چړتون ، داهم د فیلولوژی په ډانډس (چاړه تاوون) دی یعنی هغه شی چه پر چړې تاویږی ، هم دغسی ددې نوروتعبیر کولای شو، نومقصد دادی چه یوازی (تون) که چېری د (ظرف) په معنی راغلی وی خو ښه ، که نه وی دامثالونه د منلونه دی .

جواب :-

لمړی خوداوایو چه موږ ته څه ضرورت دی او څه شی مجبوره کړی یو چه هرومرو به د «مېږتون» څخه «مېږی گډون» یاد «چړتون» څخه «چاړه تاوون» جوړ وو ، اوخپل جوړ ، تیارلغت به دفیلولوژی په توره ټوکر ټوکر کوو -که داهم ومنونو په فیلولوژی کی به هم دانه وی رواچه د «مېږی گډون» د منځ (ی) او (گ) بې سببه حذف سی او (ډ) دی په (ت) الیش سی په داسی حال کښ چه هیڅ د جواز لارهم نسته - اونه بل داسی ځای راغلی دی .

خیر - پهر صورت دا فیلولوژی به هم ومنو ، اوس موږ هغه مثال راوړو چه د «تون» توری یوازی مستقل د ځای په معنا راغلی وی .

د خوشحال خان یو کړوسی دی چه دوست محمد خان نومېږی ډېر قلمی اثاراو تألیفات لری ، چه یوله هغو څخه «بدرالمنیر» قلمی تفسیر دی چه په (۱۳۰۱ه) کال ئې لیکلی دی .

ددې تفسیر په (۱۱) مخ کښ یوه جمله استعمالوی چه دیوچا څخه پوښتنه کوی :- (ویل کوم دی ځای دی یادی «تون» دی) چه عیناً دظرفیت او ځای معنا ښندی .

تنقید :-

۳:- خیر اوس مو یو څه ومانه ، مگر سره ددې دلائلو ایاتاسی کولای سی چه دفیلولوژی پر اصولو ئې کوم اساس په ژبه کښ پیدا کئی - چه تون څنگه د ځای د پاره وټاکل شو !

---

(۱) شپې پر مېږتون تېر ول مطلب بې آرامی او بې قراری ده ، یوه فاضل ورور تنقید کړی و چه مېږتون یو خوشبویه بوټی دی چه دهوسۍ خو ښ دی مگر هغسی نه ده ، ځکه چه بیا په لنډۍ او دعلی خان په بیت کی دانسانه سره څنگه جوړېږی او دخوشبویه بوټی سره خو هرڅوك په استراحت وی ، نو پر رحمن بابا بیا ولی د دنیا هوس حرام دی - (بینوا)

جواب :ـ

هراسم چه په یوه ژبه کی دیوه شی دپاره تا کل کېږی نودا ضرورنه ده چه په ژبه کی به خامخاریښه لری که نه وی (کور) یا (ځای) اونور ظروف په پښتو کی څه بنسټ لری ؟ اسماء معلول په علت نه دی ـ که داهم نه منئی نوستاسی ددغه فیلولوژی پر اصولو سم د تون ریښه پیدا کولای شو . مثلاً و یلای شوچه «تون» له «تونی» څخه اخیسته شوی دی . تونی خو دالماری په شکل یوصندوق دی چه د پښتنوښځی خپل کالی پکښ زدی او عیناً ظرف دی ، پردې اساس نو «لستونی» هم برابر پښ ی چه موږ و و ایو لستونی په اصل کی « لاس تو نی » د ی یعنی د لاس ځای همدغه ر نگه «ستونی» په اصل کی « ساتون » یا «ساتونی» یعنی د سا ځای بللای شو ـ یانور داسی مثالونه ...

علاوه پردې پښتو مر کې هم داتوری منلی دی .

د مجلس نتیجه :ـ

په پای کی ددې دلائلو په اثر تولو پښتنو فضلا و اومتعرضینو «تون» د ظرفیت دپاره په گډه و مانه او د مجلس په کتاب کښ ئې امضا و کړه .

❀ ❀ ❀

په دې مجلس کښ ښاغلی « ر شتین » او ښا غلی « زمریالی» اوښاغلی «خادم» چه دمخه لادتون دظرفیت پرخو او ، ددې توری د ظر فیت په تائید ئی ښې ښې مفصلی وینا گانی وکړې ، چه «رشتین» دقواعد وله‌خوا او «زمریالی» دفلولوژی له پلوه او«خادم» دظر فیت پر آداتو خبری اتری وکړې ، مجلس په ډېری خو ښی وپای ته ورسېد .

نو دادی دمجلس مناظره موستاسی په ځواب کښ ولیکله ، ښائی چه نور تفصیل ته به اړنه‌یو ـ په احترام

(عبد الرؤف بینوا)

آزادی

غمزده و څخه څه غواړې چېده گفت
د قفس بلبلی نه کا سنجیده گفت
چه آزادوی له پنجرې چرخ ئی په مرادوی
هم هغه طوطیان کوی بر گزیده گفت

(علی خان خټک)

❀ ❀ ❀

توره

که دی نقش دتوری کښینی راته غوږ کړه
کامر وابه شې ها له له خپله کا مه
ښه ځوانان به خپل هوډ پرې نږدی له لاسه
که ئې سر شی د خونی زمری ترزامه

(خو شحال خان) .

دپښتو په شاوخوا کښې

دپښتو ځنې مخصوصې مزایاوې

ښاغلی محمد اعظم خان « ایازی »

پښتو ژبه ځنې مخصوصې مزایاوې لري ، چه نورې ژبې یې نه لري ، اودا دهغو خلقو دپاره چه پښتو ئې مورنۍ ژبه نه وي او نوې ئې زده کوي ، ډېر مشکلات پېښوي ، نوزه غواړم چه کله نه کله دداسو مخصوصو مزایا و تفصیل دمجلې په ذریعه دخپلو ښاغلو لوستونکو داستفادې دپاره ولیکم چه ښه ئې زده کې اوفائده ځنې واخلي ، دهغو مزایاو څخه یوصفت دی چه په پښتو کښې په مختلفو شکلو دخپل موصوف سره استعمالیږي ؛

صفت وهغې کلمې ته وائي چه دیواسم تعریف،عدد، اومقدار غیرمعین ښکاره کوي مثلا ښه هلك (پسر خوب) څلور قلمونه (چهار قلم) پنځم کتاب (کتاب پنجم) ، څوسړي (چندنفر) څومره غنم (چقدر گندم) په دې عبارتو کښې (ښه) صفت دی چه د (هلك) ښه والی ښکاره کوي او (څلور) صفت عددی دی چه دقلمو تعداد څرگند وي ، (پنځم) دکتاب دعدد درجه معلوموي (څو) دسړو غیرمعین تعداد ښکاره کوي او (څومرې)دغنمو غیرمعین مقدار معلوموي ؛ نوهرهغې کلمې ته ، چه دیواسم تعریف تعداد ، درجه اوغیر معین مقدار معلوموي ، صفت وائي او اسم ته ئې موصوف وائي ؛

په پښتو کښې لمړی صفت او وروسته ترصفت موصوف راځي ، مثلاً غښتلی سړی ، په دې عبارت کښې (غښتلی) صفت دی چه له څه ترخپل موصوف (سړی) راغلی دی ، په پارسو کښې لمړی موصوف اووروسته ترموصوف صفت راځي، اودموصوف اخرې توری په زیر سره ویل کیږي چه هغه ته (کسره توصیفی) وائي ، ددې کسرې ترجمه په پښتو کښې نه کیږي ، که موږ وغواړو چه دفارسي یومرکب توصیفی په پښتو ترجمه کو ، نوفقط صفت دمخه اوموصوف ورسته ترصفت باید چه راوړو ، مثلا(شب تاریك) توره شپه، (اسپ لنگ) گوډ آس، ځنې وقت صفت ترخپل موصوف وروسته راځي ، مثلاداسې موړ دی(این مرد سیر است) په داسې وقت کښې صفت دخبر او موصوف دمبتدا په ډول راځي؛ اووروسته ترموصوف لیکل کیږي ؛

په پښتو کښې صفت دمفرد اوجمعې، دتذکیر اوتانیث په لحاظ دخپل موصوف تابع وي ، که موصوف واحد مذکروي صفت هم په هغه دواحد مذکرراځي مثلا موړ سړی(مرد سیر) ، او که موصوف جمع مذکروي صفت ئې په هغه دجمعې مذکرراځي مثلا ماړه سړی (مردان سیر) او که موصوف واحد مونث وي ، صفت ئې په صیغه دواحد مونث راځي مثلاموړه ښځه(زن سیر) او که موصوف جمع مونث وي، صفت ئې په صیغه دجمعې مؤنث راځي مثلاموړې ښځې(زنان سیر) ، او که چیر ته دوه یادرې موصوفه ، چه دیوه جنس څخه نه وي، یعنی یومذکر اوبل مؤنث وي ، په جمله کښې راسي او په یوه صفت کښې سره شریك وي ، نودهر موصوف دپاره خپل بیل بیل صفت راځي ، مثلاً مایوسپین آس اویوه سپینه مادیانه ولیدله (من یك اسپ ویك مادیان سفیدرا دیدم) مایوزوړ سړی اویوه زړه ښځه ولیدله (من یك مرد ویك زن پیررا دیدم) احمددوه زاړه او دوی زړې ښځې ولیدلې (احمددو مردودو زن پیررا دید) په دې جملو کښې سړی او ښځه مختلف الجنس دي ، اودواړه په یوه صفت کښې سره مشترك دي ، نودهر موصوف خپل صفت بیل بیل راغلی دی ، که داسې ولیکل سي، چه مایو زوړ سړی اوښځه ولیدله نو داسې

جمله په پښتو کښې غلطه ده ، ولی چه په دی جمله کښې دوه مختلف الجنس موصوفه راغلی دی ، یو موصوف (سړی) مذکر او بل موصوف (ښځه) مونثه ده ، نو د مذکر د پاره مذکر موصوف (زوړ) او د مونثی د پاره مونث موصوف (زړه) راوړه کېږی ؛ هم دغه رنګه (زاړه) او (زړې) د خپل موصوف په مطابق راغلی دی ؛

په پښتو کښې صفت د تذکیر او تانیث د مفرد او جمعی په لحاظ په بېلو بېلو صیغو راځی ، ځنی صفات د واحد مذکر او جمعی مذکری د پاره په یو ډول راځی ، هیڅ تغیر پکښې نه راځی مثلاً ګوډ سړی (مرد لنګ) ګوډ سړی (مردان لنګ) او د واحد مؤنث د پاره د واحد مذکر په اخر کښې های ملفوظی راوړی مثلاً ګوډه ښځه (زن لنګ) او د جمعی مونث د پاره د واحد مذکر په اخر کښې معروفه یې (ی) راوړی مثلاً ګوډی ښځی (زنان لنګ) ، او ځنی صفات د واحد مذکر جمع مذکر ، واحد مونث او جمع مونث د پاره بېل بېل راځی مثلاً خوږ خټکی (خربوزه شیرین) خواږه خټکی (خربوزه های شیرین) خوږه هندوانه (تربوز شیرین) خوږې هندوانې (تربوز های شیرین) ، ځنی صفات د واحد مذکر ، جمع مذکر او واحد مونث او جمع مونث د پاره په یو ډول راځی مثلاً ښکاره سړی (مرد ظاهر) ښکاره سړی (مردان ظاهر) ښکاره ښځه (زن ظاهر) ښکاره ښځی (زنان ظاهر) ، تفصیل ئی په دې ډول دی ؛

(۱) که د صفت اخری توری صحیح توری و ، نو واحد او جمع مذکر ئې اغلباً یو رنګه راځی او د واحد مونث د پاره د واحد مذکر په اخر کښې های (ه) ملفوظی او د جمع مونث د پاره معروفه یې (ی) راوړی مثلاً سپك سړی (مرد سبك) سپك سړی (مردان سبك) سپکه ښځه (زن سبك) سپکی ښځی (زنان سبك) جګ سړی (مرد بلند) جګ سړی (مردان بلند) جګه ښځه (زن بلند) جګی ښځی (زنان بلند) ، غټ سړی (مرد کلان) غټ سړی (مردان کلان) غټه ښځه (زن کلان) غټی ښځی (زنان کلان) وچ لرګی (چوب خشك) وچ لرګی (چوب های خشك) وچه لښته (خمچه خشك) وچی لښتی (خمچه های خشك) وغیره د ځنو صفاتو جمع مذکر د دې قاعدې برخلاف راځی مثلاً اوږد (دراز) اوږده ، غل (دزد) غله تریخ (تلخ) ترخه ، شین (سبز) شنه ، مړ (مرده) مړه ، مشر (بزرګ) مشران ؛

(۲) که د صفت په اخر کښې صحیح توری وی او د صحیح توری د مخه لمړی یا دویم توری معروف یا مجهول واووی نو جمع مذکره ئی اغلباً دا رنګه جوړېږی چه د واحد مذکر واو په الف بدلیږی او په اخر کښې ئی های منقوطی راوړی او د مخه توری نه ئی زروکی ورکوی مثلاً کوږ لرګی (چوب کج) کاږه لرګی (چوب های کج) کږه لښته (خمچه کج) کږې لښتی (خمچه های کج) ، زوړ سړی (مرد پیر) زاړه سړی ، زړه ښځه ، زړې ښځی ، موړ سړی (مرد سیر) ماړه سړی ، مړه ښځه ، مړی ښځی ، کونړ سړی (مرد کر) کانړه سړی ، کنړه ښځه ، کنړی ښځی ، لوند لرګی (چوب تر) لانده لړګی ، لنده لښته ، لندې لښتی ، ړوند سړی (مرد کور) ړانده سړی ، ړنده ښځه ، ړندې ښځی وغیره د ځنو صفاتو جمع مذکر د دې قاعدې برخلاف راځی مثلاً خوږ خټکی ، خواږه خټکی ؛

(۳) که د صفت په اخر کښې ملینه یې (ی) وه ، جمع مذکره ئی دا رنګه جوړېږی چه د واحد مذکر ملینه (ی) په معروفه یې (ی) بدلیږی ، او واحد مونث ئی دا رنګه جوړېږی چه د واحد مذکر ملینه یې په ثقیله یې (ی) بدلیږی مثلاً پردی سړی (مرد بیګانه) پردی سړی ، پردۍ ښځه پردۍ ښځی ، لېونی سړی (مرد دیوانه) لېونی سړی ، لېونۍ ښځه ، لېونۍ ښځی ، ګړندی سړی . (مرد چالاك) ګړندی سړی ، ګړندۍ ښځه ، ګړندۍ ښځی وغیره ؛

(٤) که د صفت په اخر کښې ملفوظی هې (ه) وی ، نو جمع مذکر ، واحد مونث او جمع مونسه ئې اغلباً د واحد مذکر په ډول راځی هیڅ تغیر نه خوری په ځنو صفاتو کښې جمع مونث ئې دا رنګه جوړېږی چه د واحد مذکر (ه) په مجهوله یا معروفه یې (ې) بدلیږی مثلاً ښه سړی (مرد خوب) ښه سړی ، ښه ښځه ښې ښځی ، ښکاره سړی ، ښکاره سړی ، ښکاره ښځه ، ښکاره ښځی ، ناکار سړی (مرد بیکار) ، ناکاره سړی ، ناکاره ښځه ، ناکاری ښځی وغیره ،

(٥) که د صفت په اخر کښې معروفه یې (ی) وی ، او د مخه توری ئې ساکن معروف واووی نو جمع مذکر ئې هم د واحد مذکر په ډول راځی ، او واحد مونث ئې دا رنګه جوړېږی چه د واحد مذکر په اخر کښې های ملفوظی او د جمع مونث د پاره معروفه یې (ی) راوړی مثلاً لوی سړی (مرد کلان) لوی سړی ، لویه ښځه ، لویی ښځی وغیره .

(نور بیا)

د پښتو مشترك لغات

ښاغلي عبدالخالق خان «اخلاص»

څنګه چه په ټولو ژبو کښې مشترك لغات شته دی او په هر محل کښې په علیحده معنی سره استعمالیږی په پښتو کښې هم له دې قسمه لغات پیدا کیږی چه ځینی نو آموزانو ته په اول کښې اشتباه پیښوی نو مونږ ددې رنګه لغاتو معنا او د استعمالولو ځایونه په دې مقاله کښې د خپلو دوستانو د اسانتیا د پاره لیکو چه دغه اشتباهات له مینځه رفع شی او د هر لغت معنی په خپل محل کښې ور معلومه شی که څه هم دغه رقم لغات به ډیر وی مګر یو څه چه دستی زما فکر ته راغلی دی دادی :-

(۱) (تړه) اول د تیږی په معنی ده دویمه معنی ئې قرارداد او معاهده هم ده لکه په مثال کښې وائی پښتانه له خپلې تړې څخه تجاوز نه کوی .

(۲) (ګټه) هم د تیږی (سنګ) او د فایدې معنی ور کوی چه دواړه معنائې مشهورې دی .

(۳) (شپه) د شپې (شب) او د شپون معنی ور کوی مګر په اوله معنی مونث او په دویمه مذکر راځی ، د اول جمع شپې او د دویم جمع شپانه راځی .

(٤) شپول اول د بزو او مېږو د پنډیدو ځای او دویم هاله بلل کیږی چه دواړه په خپل ځای کښې په خپله معنی استعمالیږی .

(٥) (خور) اول د خواهر په معنی او دویم د تیت او پراګنده په معنی راځی چه د دویم مرادف خپور هم استعمالیږی خور چه د خواهر په معنی ده جمع ئې خوندې او په دویمه معنی کښې اسم صفت مذکر دی چه جمع ئې خواره او مونث ئې خوره جمع مونث ئې خورې کیږی .

(٦) (غاړه) (۱) د ګردن او (۲) کنار او (۳) د ساحل په معنا وراځی .

۷ -: غوړول (۱) چرب کردن - (۲) ګستراندن (۳) شګفتاندن درې معنالری مګر په اوله معنا (چرب کردن) کښې ماضی مطلق او مستقبل افعال ئی غوړ که، غوړ به کی امر حاضر غوړ کړه اسم مفعول غوړ کړی راځی لکه لاس می غوړ که لاس به غوړ کی لاس غوړ کړه لاس می غوړ کړی دی او په نورودو اړو معناو (ګستراندن او شګفتاندن) کښې ماضی مطلق او مستقبل افعال وغوړاوه وبه غوړوی امر حاضر وغوړوه اسم مفعول غوړولی راځی لکه شمال ګل وغوړاوه ، احمد ټغرو غوړاوه یا به ئی وغوړوی - ټغرو غوړوه - ټغرې غوړولی دی مګر فعل حال او ماضی استمراری او اسم فاعل ئې په درې واړو معناو کښې یو رنګه غوړوی ، غوړاوه غوړوونکی راځی لکه غوړی لاس غوړوی احمد ټغر غوړوی شمال ګل غوړوی احمد لاس غوړاوه محمود ټغر غوړاوه شمال ګل غوړاوه

۸ -: (غوړېدل) دا هم د غوړول په شان (چرب شدن) ګستریدن ، شګفتن په معنی راځی د افعالو تو پیر ئی هم په دغه قیاس واخله .

۹ -: (لګول) - (۱) دردادن - (۲) خرچ کردن (۳) - چسپانیدن درې معنالری چه په درې واړو معناو کښې ددې مصدر افعال یو برابر دی هیڅ تو پیر نه لری لکه ډیوه لګوم روپۍ لګوم لاس په دیواله لګوم ډیوه می ولګوله روپۍ می ولګولی لاسونه می ولګول نور هم په دی قیاس .

۱۰ -: (لګېدل) (۱) درګرفتن - (۲) خرچ شدن (۳) مصادف شدن درې معنا لری چه د درې واړو معناو افعال د لګول په شان په قاعده برابر او یو رنګه راځی لکه چراغ ولګېد روپۍ ولګېدی موټر د دیواله سره ولګېد یا چراغ لګیږی روپۍ لګیږی موټر لګیږی نور هم په دی قیاس .

۱۱ -: ژړی - یا جړی - باران دوام دار (۲) بته معروف

زهر مهره دوه معنا لری .

۱۲ ـ:اوستل ـ (۱)خواندن(۲)افشاندن دوه معنالری دامصدر په دواړو معناوکښ مختلف او خلاف قاعده افعال لری په خواندن کښ ومی لوست،لو لم ، و به لو لم لوستلی می دی ـ په افشاندن کښ ومی لوست، لونم وبه لونم، لوستلی می دی په دویمه معنی نو ستل هم دلوستل مرادف دی .

۱۳ :ـ (تال) (۱) گاز ، (۲) معطل دوه معنا لری مگر په دوهمه معنی تالول اوتالیدل مصدرونه هم لری اوویل کیږی احمد زما کار تالوی یا تال به ئی کی یا زما کار وتالید همدغسی نور .

۱٤ :ـ (شړی ـ) (۱) شالکی ، (۲) بتهٔ معروف دوه معنی لری .

۱٥ :ـ (غونډ) (۱) چیزی گرد ومدور ، (۲) جمع وفراهم دوه معنا لری چه افعال یی هم دغونډول اوغونډیدل ځخه جوړیږی .

۱٦ :ـ (ټوپ) (۱) انبار کاه شالی وجواری ، (۲) جست وخیز داهم دوه معنی لری چه اول جا مداسم دی اودویم دفعل نوم دی چه ټوپ وهل یی مصدر دی .

۱۷ :ـ (کوټه) (۱) خانه، (۲)قلپ وناسره دادواړه معنا هم بیلا بیل معلومی دی .

۱۸ :ـ (وله) (۱) در خت بید ، (۲) ریشهٔ در خت دادواړه معناهم معروفی اومشهوری دی چه دواړو جمع ولی راځی .

۱۹ :ـ (میره) (۱) دشت ، (۲) مادراندر دادواړه معناهم ښکاره دی چه جمع ئی میرې راځی .

۲۰ :ـ (منبو که) (۱) منقار ، (۲) نوله آفتابه داهم مشهوری معنادی چه دچرگ مښو که اود کوزی مښو که استعمالیږی اوجمع ئی مښو کې راځی .

۲۱ :ـ (اوښی) خسر بره دا لقب دوه تنو ته استعمالیږی یودخور میره ته اودویم دښځی ورورته دا اسم که بی له تفصیله مطلق یاد شی یعنی که بوسړی ووائی چه اوښی می راغلی دی مخاطب حیرانیږی چه دخور میره ئی راغلی دی او که دښځی ورورئی دی ؟ اما که ښځه داخبره وکی نوشك نه پاتی کیږی ضرور سړی یوهیږی چه دخور میره ئی دی .

۲۲ :ـ (لور) (۱) ظرف ، (۲) داس دوه معنالری چه په اوله معنا کښ جمع نه ده مستعمله اوپه دویمه معنا کښ دداس دپاره جمع ئی لرونه کیږی اولوری هم په اوله معنی کښ ورسره مرادف دی .

۲۳ :ـ (مانهو) (۱) کشتیبان اوملاح، (۲) یومشهور بوټی دی چه دانوته ئی طبیبان حب الاس وائی په او له معنی کښ مرادف مانهگی لری په دواړو معنا وکښ ئی جمع مانهوگان راځی .

۲٤ :ـ (مزه) (۱) موش ، (۲) ماهیگك داهم دوه معنا لری .

۲٥ :ـ (چټ) (۱) آدم قلاش ، (۲) تباه ونابود چه چټول اوچټیدل دوه مصدرونه هم په دوهمه معنی لری اوپه اوله معنی یی جمع چټان راځی .

۲٦ :ـ (ستن) (۱) سو زن ، (۲) ستون عما رت ددواړو جمع ستنی کیږی .

۲۷ :ـ (کټی) (۱) بچهٔ گاومیش ، (۲) کاه ماش (۳) «چوبك اندازه کردن شیر» دادری واړه معنامعروفی اومشهوری دی .

۲۸ :ـ (کونډ) (۱) شخص زن مرده (۲)سر کوه داول جمع نه ده مستعمله اوددویم جمع کونډونه کیږی .

۲۹ :ـ (کونډی ـ) (۱) حیوان مادهٔ بی شاخ (۲) کاسهٔ خورد چوبی ددې دواړو جمع اومفرد عموماً یورنگه راځی په بعض محاورو کښ کونډیانی هم ویل کیږی .

۳۰ :ـ (گاڼه) (۱) زیور زنانه (۲) رهن وگرو ددې دواړو جمع گاڼې راځی .

دا هغه مشترك لغات و چه په تلفظ اوحرکاتو کښ یی هیڅ تغیر اوتوپیر نشته دی بعض نورداسی لغات هم شته چه په شکل اولیکلو کښ فرق نه لری مگر دحرکاتو اوتلفظ په تغیر سره نوری معنا ښکاره کوی که خدای کول دهغو لغاتو یوڅه تشریحات به هم په بله مقاله کښ ولیکو .

گڑه کول

ادبی انتقاد

ښاغلی قیام الدین خان «خادم»

په لاندی خو کرښو کښې د پښتو دلیکونکو یو خو ټکو ته توجه را اړول غواړو هیله کېدی شی چه د دغه ټکو صحت به پس له دې ترنظر لاندې ونیولی شی :

اول : د پښتو جمع په دوه قسمه ده ، یوه د مذ کرده ؛ اوبله د مؤنث ، د مذ کر جمع په خو خو ډوله ده ، مگر په ټولو کښې چه ډېره مستعمله ده ، هغه د (ونه) یاد (آن) جمع ده . په دې دوه قسمو کښې دغه دویم قسم جمع یعنی دالف اونون جمع د پښتو ژبې پوری خصوصیت نه لری . بلکه دارقم جمع د پارسی او پښتو دواړو ژبو په منځ کښې مشترکه ده . نو کوم اسمونه چه د پښتو په محاوره کښې په (ونه) جمع کېدی شی هلته د (آن) جمعې ته باید هیڅ ونه کتل شی . ځکه چه دا په دغه ځایکښې دبلې ژبې اثر بلل کېږی چه زمونږ په ژبه شویدی . د مثال په ډول!

۱ ـ بوټ	:	بوټان .	بوټونه
۲ ـ بم	:	بمان .	بمونه
۳ ـ موټر	:	موټران .	موټرونه
٤ ـ قلم	:	قلمان .	قلمونه
٥ ـ اس	:	اسان .	اسونه

دغسې خه نورې جمعې هم دی چه هغه چورې غلطې مستعملې دی . هغه دادی : (۱) : لکه د عسکر جمع عسکر ونه . ځکه چه عسکر په پښتو کښې اسم جنس غوندې یو شی دی . پخپله یې په ډېرواو لږو اطلاق کېږی . لکه چه وائی : « په فلانی ځای کښې ډېر عسکر جمع شویدی » او کوم وخت چه ځوك یې جمع کوی ، نو هماغه عربی جمع یې مستعملېږی . یعنی عساکر ویل کېږی ، نه عسکرونه .

(۲) : د « کس » لفظ چه یو پارسی لفظ دی په « کسان » جمع کېږی . نه په « کسونه » نه شی ویلی چه « پرون یو خو کسونه سړی دلته راغلی وو » بلکه « خو کسه » یا « خو کسان » ویل کېږی .

(۳) : « شونډه » مؤنث لفظ دی ، جمع یې « شونډی » راځی . ځینی کسان یې چه په شونډان جمع کوی هیڅ صحت نه لری .

(٤) دارنگه د « ړوند » قیاسی جمع ړانده . او د « کوڼ » قیاسی جمع کانړه راځی . ځوك یې چه ړندیان واګی هیڅ توجیه نه لری .

(٥) : « گوډ » د هغه قسم الفاظو څخه دی چه جمع مذ کره نه لری . لکه « ولاړ » ـ « ناست » ـ « مات » او داسی نور ، نود « گوډ » څخه گوډیان جمع غلطه ده .

ب :

ځینی کسان په دې سهوه کښې لوېدلی چه د اضافت د ال د اعلامو څخه لوېږی . نو دوی یې د صفاتو څخه هم غور ځوی لکه « دا خون کلی » چه د علمیت په وخت کښې « اخون کلی » ویل کېږی . نو دوی غواړی چه « د پوهنې وا کوال : وزیر معارف » په ځای « پوهنوا کوال » وواګی . بلکه د اضافت د دال په ټیل کښې چه چېرته دا لونه د ی هغه ټول غور ځوی .

نو « د باندینیو هوادو » په ځای « باند ینیوهوا دو » لیکی چه هیڅ وجه نه لری .

ج :

« واقعات » جمع ده . که په پښتو کښې ځوك دا لفظ مستعملوی ، نو بې د عامل د دخول څخه خپله همدغه لفظ راوړل کېږی . نو « واقعات عالم » ـ « د عالم واقعات » ترجمه کېږی د عربی جمعو پوری چه واوملحقېږی نو هغه د جمعیت علامه نده . بلکه د عامل اثر دی . چه باید اعراب ورته وویل شی . نو ځوك چه « واقعات دنیا » په « دنیا واقعاتو » بې د عامل له وجوده لیکی ، داسی غلطی ده چه فاحشه ورته ویل کېږی .

« نوربیا »

د سنبلې اتلسمه

یا

د ملي شورا د تأسیس ورځ

دسنبلې اتلسمه روځ هم لکه زموږ نوري تاریخي روځي چه په دې آخري پېړۍ کې زموږ ملي مفاخر روښانه کوي، دشهید پښتون اعلیحضرت دلوړو کارنامو څخه شمېرل کېږي .

هغه روځ چه غازي اعلیحضرت محمدنادر شاه شهید (رح) د کورنۍ نفاق پرور کولو او د جګړې داور پروژلو بریالي شو او دسلطنت دامور وواګي ئې په لاس کې ونیولې او دحکومت خط مشي ئې اعلان کې ، نو واردواره ئې دوفادار ملت سره دملي شورا دتأسیس وعده وفرمایله .

چه هم په دغه اثر د ۱۳۰۹ کال دسنبلې په ۱۸ تاریخ لویه جرګه منعقده او په افغانستان کښې دملي شورا بنسټ (اساس) کښېښودل شو .

شهید اعلیحضرت محمد نادرشاه دوطن ښاغلي او پیاوړي زوی داسې ډېر نه هېرېدونکي خدمتونه دافغانستان وملت او مملکت ته کړي دي چه ددې هواد په تاریخ کښې به ثبت پاته شي .

هو ـ د ګران وطن خپلوا کې هم ددې مېړه پښتون په توره ګټلي شوې ده ، کورنۍ اختلافات او جنګونه چه دملت ژوند ئې دفنا او نیستۍ وخواته باله ددې پوه غازي په ښه تدبیر ورك او محو شوه .

دملي شورا تأسیس او دملت ونماینده ګانو ته ددولت په اداري امور و کې حق ور کول هم ددې لوړ شهید له یادګارو څخه باله کېږي .

نو پرموږ لازمه ده چه ددې خواخوږي شهید کارنامې تل په یادولرو ، او دده وسپېڅلي روح ته خپل دزړه له کومې ادعیې وړاندې کو . او ددې ښې مبارکي روځي تبریك دپښتونخوا وټول ملت ته ووایو ـ

هم له لوی خدایه څخه داهیله ولرو چه داملي شورا دلوړو لوړو کارومصدر وګرزي چه په دې کار و کې نو د افغانستان ترقي او لوړ توب ملحوظ وي

دمطبوعاتو نړۍ

پښتانه شعرأ

پښتو ټولنه خو وظیفتاً مجبوره ده چه دملي ژبې په شاوخوا کې هر راز دقیقې پلټنې اوڅېړنې وکې، اودپښتونخوا له هره ګوټه څخه دژبې ذخائر او پنګې راغونډې کړې .

له ښه مرغه څوورځې دمخه پښتو ټولنه موفقه شوې ده چه دپښتو یومهم رکن چه دپښتنو شعراؤ تذکره ده په پښتنې زیار پوره کې اوبیا دپښتنو له زړو څخه یو ارمان لیرې کې .

ددې تذکرې لمړی ټوک په (۳۹٤) صفحو کې چه ددیرو شعراؤ اونورومهمو رجالو عکسونه پکښې سته په خورا ښکلیتوب له طبع راوتلی دی اولیکونکې ئې ښاغلی فاضل عبدالحی خان «حبیبی» دی چه دپښتو ټولنې دنورو اعضاؤ په کومك ئې وپای ته رسولی دی .

په دې ټوک کښې دابتدأ څخه داسلام یعنی د(۳۰۰ھ) دمخه بیاتر (۱۰۰۰ھ) پورې سل تنه دپښتنو مهم اوورك شاعران سره دکلام له نمونې راوړه شوی دی ، چه ګویا دپښتو دادب عمر ګې تر زرو کالو دمخه تاریخ پورې رسولی دی.

ددې کتاب مآخذونه و (۱۷۹) کتابونه رسېږی چه ځینې قلمی آثار اوځینې طبع شوی دی ، په سر کې یو داسماءالرجالو اود کتابو فهرست هم لری .

خو له هره حیثه دا کتاب ډېر قیمت لرونکی او غنیمت کتاب دی .

دکابل مجله پر خپل نوبت وښاغلی فاضل ملګری «حبیبی» اودپښتو ټولنې ونورو غړو ته دزړه له کومې تبریك وائی .

له لوی خدایه څخه امیدلری چه دپښتو ټولنې ته لا ښه توفیق ورکړی چه نورلوړلوړ خدمتونه وخپلې خوږې ژبې اوخپل ګران ملت ته وکې .

په پای کې ټولو هغو ذواتو ته چه دپښتنو الی سره مینه لری ددې کتاب دپیدا کولو توصیه کوی .

دپښتو اصطلاحات او محاورې

له ښه مرغه پښتانه دخپلې ژبې په خدمت کښې په خورا بیړه اخته دی اوهر پښتون ئې پر ځان فرض بولی چه دخپلې مورنۍ ملي ژبې په لوړوالی کې به زیار باسی .

هو ـ دادیوه سړی کار نه دی اونه پښتو دیوه فرد ژبه ده ، بلکه یدی ژبه یو بیاوړی ملت خبری کوی نود دې ژبې ترقی هم په ټوله ملت اړه لری .

دادی چه پر پښتنو ورونو بیا دیوه بل ښکلی کتاب زېری کوو .

دا کتاب دپښتو اصطلاحات اومحاورې دی چه ښاغلی محمد ګل خان «نوری» دپښتو ټولنې دتألیف اوترجمې دخانګې مدیر ټولی کړی اولیکلی دی .

په دې کتاب کې (۱۹۰٦) محاورې اواصطلاحات دالفبا پر ردیف سم. سره له متداولو مثالو ترتیب شوی دی ، دهری محاورې شرح په فارسی ژبه ښه مفصله لیکلی شوې ده .

دا کتاب (۳۹۲) صفحې دی چه ښه قطع اوښه طباعتی ښائیست لری، په آخر کې د (مصطلحات اطفال) ترعنوان لاندې دکوچنیا ود کوچنیوالی اصطلاحات مردف راغلی دی.

دا کتاب دپښتو دمتعلمینو سره بېخی ډېر کومك کوی ، نوموړو ښاغلی «نوری» ته خپل پښتنې تبریکات وړاندې ، او دمجلې ولوستونکو ته ئې په ډېره مینه دویلو سپارښت کوو .

د پسرلی نغمه

دایوه ښکلې نغمه ده ، چه زموږ دښاغلی فاضل ملګری ګل پاچاخان «الفت» له زړه څخه راوتلې اودغمزده زړونو دغوږېدو دپاره طبع شوې ده .

که څه هم دا اثر کوچنی شانته دی، مګر که ظاهر بین ئې په ښکاره صورت غلطه نه شی اوتر پایه ئې ولولی، نوور معلومه به شی چه دا نظم خو شی بېڅا په خبری نه دی ، لکه عبدالقادرخان چه وائی :

ر نګینه شعر می مه ګڼه خبر ی
داروان زما دزړه دوینو رو ددی

موږ دښاغلی «الفت» وښې طبعی ته تبریك وایو اووتولو فضلا ؤته ددې نغمې دلوستلو توصیه کوو !

د نندارتون مجله

دادوه کاله کېږی چه داستقلال دجشن په ورځو کې دوزارت اقتصاد دانطباعاتو دلوی مدیریت له خوا دنندارتون مجله خپرېږی ـ

سږ کال هم دسنبلې په څلرمه دسه شنبې په ورځ دا ښکلې مجله چه دمملکت دصنائعو دترقیاتو ښه نمایندګی کوی په (۱۰۲) مخو کې په مناسبه قطع دښاغلی فاضل محمد زمان خان «تره کی» په اهتمام په خورا ښکلیتوب خپره شوه .

په دې مجله کې ښې ښې ښائسته تابلو ګانې او عکسونه او ګټور مضامین لیده کېږی .

نود کابل مجله خپل دزړه له کومې تبریکات وښاغلی «تره کی» اودهغې مجلې ونورو کارکوونکو ته وړاندې کوی

(د صحافت خانګه)

دکابل کالنی ۱۳۱۹

که غواړئ چه خپل کتاب کور (کتابخانه) په یوه ښکلی گټور کتاب ښائیسته کئ

چه هر راز علمی، او ادبی اطلاعات لری او د ژبی د علم مختلفه موضوعات

او د ۱۳۱۹ سنې دولتی اجراءات او نور ښه ښه جذاب گراو رونه

پکښ سته۔

او یا که مو خیال وی چه یو څه کافی معلومات ستاسی پر علمی ذخیرو

اضافه شی او د مملکت محسوس ترقیات چه په ۱۳۱۹ کال کښ شوی دی

وو ینئ نو (دکابل کالنی ۱۳۱۹) یوه نسخه هر ومرو ولاس ته د روئ۔

قیمت؛ کپرئ وقایه، ۳۰ افغانی ۳۰ پوله

کاغذی ،، ۲۲ ۲۵ ،،

د پلور لوځای: د مطبوعاتو د مستقل ریاست د اجرائې مدیریت

4